


Maulana
WAHIDUDDIN KHAN

Ketabton.com

# الرسالہ

Al-Risala

لسمه ګڼه – اکتوبر، ۲۰۲۵ز

(c) ketabton.com: The Digital Library



# الرسالہ

Al-Risala

لسمه کڼــــــه – اکتوبر، ۲۰۲۵ ز

Maulana
WAHIDUDDIN KHAN

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بسم اللہ الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library


# په دې ګڼه کې


| مخ | عنوان |
|---|---|
| ۶ | د قرآن مطلوب انسان |
| ۱۹ | د صنعتي نظام تضاد |
| ۲۱ | نادانه ملګرتیا |
| ۲۴ | له ادم نه تر عیسی پوري |
| ۲۹ | د اسلام مېرمن |
| ۳۳ | چې بدي د نېکي... |
| ۴۰ | له مرګ نه پورې غاړه |
| ۵۴ | د ژباړې تېروتنه |


او نور ډېر څه...

(c) ketabton.com: The Digital Library


# مخالف حالات

**مخالف حالات د ژوندیو قومونو لپاره د پرمختګ زینه ګرځي!**

آرنولډ ټاین‌بي (۱۹۷۵- ۱۸۸۹) له هغو څو نېکمرغه رایټرانو څخه دی، چې په خپل ژوند کې یې نړیوال مقام وموندہ. دي انګرېز مؤرخ تر ټولو ډېر شهرت د خپل کتاب «د تاریخ مطالعه» په سر ترلاسه کړ، چې لس ټوکونه لري او ۲۱ تمدنونه یې په کې څېړلي دي. د دې کتاب مرکزي مضمون دا دی، چې هغه ځواکونه چې تاریخ سازوي، له بنیادي پلوه داخلي ځواکونه دي، نه خارجي عوامل. نوموړي له لرغوني زماني نه تر اوسه پورې ټول لوی تمدنونه مطالعه کړي او دا یې په ډاګه کړې ده، چې هغه قومونه چې دا تمدنونه یې وزېږول، په اصل کې هغه اقلیتونه وو، چې په تخلیقي وړتیاوو سمبال وو او د وخت ننګونو ته یې په بریا سره ځواب ووایه.

اقلیتونو ته له پخوا نه دا ورپېښه وه، چې دوی پرلپسې د اکثریت له لوري تر فشار لاندې وي. دا فشار په عملي ژوند کې ډېر لوی نعمت دی. د دې فشار په برکت په یوه قوم کې دروني تخلیقي استعداد غوړېږي او د دې وړتیا وربښي، چې له ورپېښو ننګونو سره په مبارزه کې د رهبري رسالت ترسره کړي. خو هغه قومونه چې په قاموس کې یې «فشار» یوازې د «مظلومیت» معنا لري، د هغوی په برخه کې له فریاد او واوېلا پرته هېڅ هم نه رسېږي. دوی تنها د خپلو محرومیتونو په ثبتولو کې مشغول وي یا په غونډېو او ویناوو کې خپل هنر او کمال ښکاره کوي او فکر کوي، چې نور یې د خپلې سربلندۍ راز موندلی دی. تر دې چې د وخت قافله چې ډېره وړاندې ووځي، نو معلومه شي، چې د دوی لپاره په دې دنیا کې له قبرستان نه پرته نور هېڅ هم نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قرآن مطلوب انسان



په یوه حدیث کې راغلي دي، چې «**المؤمن مرأة المؤمن**» یانې مؤمن د بل مؤمن لپاره هینداره وي. پـه دې لیکنـه کـې لیکوال غواړي، چې ستاسې لپاره همداسې هینداره شي. په دې فرصت کې د بهترین خدمت په توګه همدا زما پـه فکـر کې راغلل، چې ډېر په ساده او لنډ ډول ځینې داسې خبرې ستاسې مخې ته کېږدم، چې تاسې خپل ځان بالکل بربنډ او واضح په کې ووینئ. الله دې زما او ستاسې مرستندوی شي.

د ایمان نښه څه ده؟ د دې پوښتنې په ځواب کې که یو لنډ لیکلړ جوړ شي، نو په ځان کې به دوه شیان رانغاړي. قرآن او لمونځ. دا دوه کلمې په اصل کې د ټول دین عنوان دی. یو له نظري او تیوریکي پلوه تر ټولو ډېر اهمیت مومي او بـل له عملي پلوه. هماغه انسان په اصل کې خدای مندلی دی، چې قرآن او لمونځ یې مندلی وي. دا دواړه شیان مو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ژوند کې شامل شول، نو پوه شئ، چې ايمان او اسلام مو په ژوند کې شامل شو او که مو ژوند له دې دواړو تش وي، نو د دې معنا دا ده، چې تاسو تر اوسه پورې هم له ايمان او اسلام نه محروم ياستئ.

د دې دواړو بنيادي اهميت پخپله له قرآن کريم نه هم ثابت دی، ارشاد دی:

«وَالَّذِينَ يُمَسَّكُونَ بِالْكِتَابِ وَأَقَامُواْ الصَّلاَةَ إِنَّا لاَ نُضِيعُ أَجْرَ الْمُصْلِحِينَ» (الاعراف: ۱۷۰)

او هغوی چې کتاب ټينګ نيولی او لمونځ يې ترسره کړی، يقيناً موږ د (داسې) نېکانو اجر نه ضايع کوو.

ګواکې نېک انسان يوازې هغه څوک دی، چې قرآن او لمونځ يې په خپل ژوند کې شامل کړی وي. د همداسې خلکو هڅې د خدای په نزد د «اصلاح» حيثيت مومي او د همدوی عمل به الله تعالی په دنيا کې سرخرويه کوي او په اخرت کې به يې په خپل انعام سرلوړي کوي. په بل ځای کې همدا خبره د امر په اسلوب کې راغلې ده:

«اتْلُ مَا أُوحِيَ إِلَيْكَ مِنَ الْكِتَابِ وَأَقِمِ الصَّلاَةَ» (عنکبوت: ۴۵)

لوله هغه کتاب چې تاته وحي شوی دی او لمونځ ترسره کوه.

خو د قرآن او لمانځه د خپلولو معنا دا نه ده، چې انسان د کلماتو يوه مجموعه يا ظاهري فورم ورخپل کړي، بلکې له دې نه مراد يو ستر حقيقت موندل دي، چې د انسان په وجود وزرې وغوړوي، چې همدا حقيقت يې ټول ژوند وګرځي. اصلي نکته دا ده، چې هر شی چې ستاسې په ژوند کې تر سترګو کېږي، هغه دوه شکلونه لرلی شي. يو دا چې هغه شی تاسې په حقيقي معنا درخپل کړی وي. بله دا ده، چې هغه شی ستاسې د ژوند حقيقي برخه نه وي، بلکې د ځينو نورو عواملو له مخې ستاسې په لمنه کې در لوېدلی وي. دا عين ممکن دی، چې انسان چې په کلماتو کې د ځان په هکله کومه دعوه کوي، د هغو خبرو لحن د دعوې خلاف شاهدي ووايي. (محمد: ۳۰) د انسان له ژبې او قلم نه خو ډېرې اعلی خبرې صادرې شي، خو د عمل حال يې دا وي، چې د دې آيت مصداق وي، **يَقُولُونَ بِأَفْوَاهِهِم مَّا لَيْسَ فِي قُلُوبِهِمْ** (آل عمران: ۱۶۶) ياني په خوله هغه څه وايي، چې په زړونو کې يې نشته. د ده د ژوند مرکز او محور اقتصادي ګټې، خپل آل و عيال او دنيوي ارزوګانې وي، خو په خبرو او اړيکو کې ځان داسې وښيي، چې ګواکې خدای او د هغه دين يې د خپل ژوند مرکز او محور ګرځولی دی.

مثلاً يو شخص دی، چې د امت په رژېدلي حالت باندې وېناوې او بيانونه خپروي، خو په خپل ژوند کې يې يوه شېبه هم داسې نه ده تېره شوې، چې د امت له درد نه يې خوب تنبتېدلی وي او يا يې په روانو اوښکو کې له خولې وتلي وي چې «خدايه، ته دوی ته هدايت وکړه، خدايه ماته ځواک راکړه، چې هغوی ستا لارې ته رادعوت کړم.» نو دا د دې خبرې ثبوت دی، چې د امت له درد نه زيات دی خپل درد ډېر کړوي. په دې چې له دې عنوان پرته دی په رښتيو او

(c) ketabton.com: The Digital Library


دریځ باندې د خپل ځان تظاهر نه شي کولی. که د خبرو په مېز باندې یو شخص د مظلومو انسانانو په حمایت کې په بحث او خبرو اترو کې ښه په جوش او جذبه برخه اخلي، خو ورځنی ژوند یې له مظلومو انسانانو سره له خواخوږۍ خالي وي، نو دا همدردي نه ده، بلکې د ریاکارۍ ثبوت دی. که په رسمي غونډې بحث او مباحثه کې انسان د اصولو او ډسپلن ډېره حواله ورکوي، خو له خبرو وراخوا بیا ژوند داسې تېروي، چې د بې اصولۍ ښکاره بېلګه وي، نو د دې معنا دا ده، چې هغه څه په حقیقي معنا په ده کې نشته، چې دی یې غواړي، د خپلو کلماتو په زور یې ثابت کړي. دی خپل ځان په یوه داسې حیثیت کې څرګندوي، چې په اصل کې د ده حیثیت نه دی. که مو څوک ولیدل، چې په نورو باندې په تنقید کې یې ژبه ډېره تېزه ده، خو پخپله چې د کار کوم فرصتونه د ده په لاس کې دي، په هغو کې دی پخپله هماغسې کمزورتیاوې ښیي، چې نور خلک په خپلو ډګرونو کې په کې مبتلا دي، نو دا د دې خبرې ثبوت دی، چې دی په واقعیت کې له اصلاح سره کومه دلچسپي نه لري، یوازې تنقید ورته ګران دی او هماغه ته یې متې نغاړلې دي.

د څو کاله پخوا خبره ده. د ټرانکور په سیمه کې مې په رېل ګاډي کې سفر کاوه. ماته مخامخ څوکۍ باندې ځینې عیسویان ناست وو، په خپلو کې یې خبرې کولې. یوه وویل، په مسلمانانو کې مذهبي رویه ډېره زیاته وي. د دوی هر ماشوم چې کله تعلیم شروع کوي، نو تر ټولو دمخه قرآن کریم ور زده کوي. بې له شکه دا خبره تر ډېره بریده سمه ده. بلکې په مسلمانانو کې خو دا دود پاتې شوی دی، چې هغوی هره ورځ د سهار له لمانځه وروسته د الهي کتاب تلاوت کوي. سره له دې چې د اوسنی زماني سطحیت پالنې دې ذوق ته ډېر زیات نقصان اړولی دی او په تېره د لوستو خلکو سهار خو اوس د قرآن کریم د تلاوت په ځای د اخبار په تلاوت کې تېرېږي، خو بیا هم زموږ شاوخوا ته په کافي شمېر داسې سړي او سړی شته، چې تر یوه حده پورې یې دا دود ژوندی ساتلی دی. زه له دې خبرې انکاري نه یم، چې دغه ډول تلاوت هم یو دیني کار دی. خو هغه څه چې الله تعالی ته مطلوب دي، هغه مازې د قرآني کلماتو تلاوت نه دی، بلکې «د تلاوت حق» دی. ارشاد دی چې:

«الَّذِينَ آتَيْنَاهُمُ الْكِتَابَ يَتْلُونَهُ حَقَّ تِلَاوَتِهِ أُوْلَئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِ» (البقرة: ۱۲۱) چاته مو چې کتاب ورکړی (او) چې څنګه یې حق دی، هغسې یې لولي، همدوی ایمان پرې راوړي.

د تلاوت دغه حق چې هر چا ومونده، هماغه په اصل کې د قرآن لوستونکي دي او هماغوی په سمه معنا کې په دې کتاب ایمان راوړونکي دي. د تلاوت د حق معیار څه شی دی؟ په دې سوال باندې چې کله غور کوو، نو زموږ مخې ته تر ټولو لومړی دا آیت راځي:

(c) ketabton.com: The Digital Library


وَإِذَا مَا أُنزِلَتْ سُورَةٌ فَمِنْهُم مَّن يَقُولُ أَيُّكُمْ زَادَتْهُ هَذِهِ إِيمَانًا فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُواْ فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ (توبة: ۱۲۴)

او کله چې کوم نوی سورت نازلیږي، نو له هغوی (منافقانو) نه ځیني وایي: په تاسو (مسلمانانو) کې په دې سره د چا ایمان زیات شو؟ نو (حقیقتاً) کومو خلکو چې ایمان راوړی، ایمان یې ورزیات کړی او هغوی پرې خوشاله دي.

له دې آیت نه په قرآن کریم باندې د ایمان راوړونکو نښه دا معلومه شوه، چې کله هغوی قرآن ولولي، نو ایمان یې زیاتېږي او په خپل درون کې غوره جذبات تجربه کوي. همدا هغه څه دي، چې په بل ځای کې د حق پېژندنې په کلمه تعبیر شوی دی، فرمایي:

«وَإِذَا سَمِعُواْ مَا أُنزِلَ إِلَى الرَّسُولِ تَرَى أَعْيُنَهُمْ تَفِيضُ مِنَ الدَّمْعِ مِمَّا عَرَفُواْ مِنَ الْحَقِّ» (المائده: ۸۳)

او کله چې هغه څه واوري، کوم چې دې رسول ته نازل شوي، نو ته به ګورې چې په سترګو کې یې په حق پېژندو سره اوښکې ډنډېږي.

د ایمان زیاتوالی او د حق پېژندنه دواړه د یوه حقیقت دوه تعبیرونه دي. هغه خلک چې د قرآن کریم واقعي مؤمنان دي، هغوی چې کله قرآن کریم لولي، نو دا کتاب هغوی ته سراپا حقیقت په نظر ورځي. هغه حقیقت چې انساني علم یې په هکله دا خبره منلې ده، چې دې حقیقت ته انسان هیڅ کله نه شي رسېدی. هغه حقیقت چې فلسفه یې له زرګونو کلونو راهیسې لټوي، خو تر اوسه پورې یې لاره ورته نه ده پیدا کړې، د ایمان خاوندان همدا حقیقت د خدای په کتاب کې مومي. د قرآن په شکل کې هغوی حقیقت په خپلو سترګو ګوري. دغه علم د دوی ایمان او یقین زیاتوي. د قرآن کریم سوژې چې له لوستونکي څه راز ځوابي کیفیتونه غواړي، د هغه زړه په هر ځای کې کټ مټ هماغسې کیفیتونه ځان ته غوره کوي. چې کله د ځمکې او آسمان نښانې مخې ته ورته ږدي او سوال ورنه کوي، چې د دې ټولو خالق څوک دی، نو بې اختیاره یې له خولې وځي، «**بل انت یا رب**؛ خو (نه) همدا ته یې یا ربه!» چې کله د خدای احکام بیانېږي او له انسان نه د خپل حیثیت مطابق د سمې رویې غوښتنه کېږي، نو له خولې یې چیغه وځي، چې «**ربنا آمنا فاکتُبنا مع الشاهدین**؛ اې زموږ ربه، موږ ایمان راووړ او په شاهدي ورکوونکو کې مو ولیکه.». د قرآن کریم د تلاوت په وخت کې په زړه کې باید دا یقین په څپو شي، چې دا د خدای کلام دی. کومه مطالعه چې دا ډول کیفیت ونه زېږوي، هغه د ړندو او کڼو مطالعه ده (فرقان). مؤمن چې کله قرآن کریم لولي، نو داسې یې لولي ته وا رب العالمین ته یې غوږ نیولی دی، ته وا له خدای سره په خبرو دی، ته وا قرآن پخپله په ده نازلېږي. قرآن د انسان تر ټولو محبوب

Maulana WAHIDUDDIN KHAN

(c) ketabton.com: The Digital Library


کتاب ګرځي، چې انسان په کې د خپلو جذباتو تسکين مومي، چې د خپل زړه دنيا ورباندې آبادوي، چې يوه نوې رڼا ورنه حاصلوي، چې ټولو عقلي او روحاني تقاضاوو ته ځواب ورکوي.

د قرآن کريم دغه راز موندنه د علمي موندنې غوندې څه نه دی، بلکې دا د بنده له لوري د خپل رب موندل دي، بلکې خپل رب ته رسېدل دي. په تاريخ کې د دې مثالونه موجود دي، چې د ځينو خلکو علمي ذوق هغوی په کتابونو مييان کړي دي. د دې به هم ګڼ مثالونه وموئ، چې د يوه فلسفي يا مفکر ليکنو خلک دومره متاثره کړل، چې هغوی بالکل ايمان ورباندې راووړ. خو د خدای د کتاب معامله له دغه ډول واقعاتو سره بالکل تفاوت لري. دا د کايناتو د خالق او مالک کتاب دی او موږ د هغه حقير بندګان يو. د دې نسبت طبيعي تقاضا ده، چې له قرآن کريم سره زموږ تعلق مازې علمي تعلق نه وي، بلکې د بنده او د خدای تعلق وګرځي. موږ چې کله قرآن لولو، نو په موږ هغه هيبت نازل شي، چې د کايناتو د فرمانروا د فرمان له اورېدو وروسته په يوه عاجز غلام بايد نازل شي. د دې کتاب په لوستو سره زړه ويلي شي، اواز مو پست شي، ټول وجود مو د نياز او عاجزۍ يو پيکر وګرځي او د هغه مخې ته په ګونډو شي. هغسې چې ارشاد دی:

«اللَّهُ نَزَّلَ أَحْسَنَ الْحَدِيثِ كِتَابًا مُّتَشَابِهًا مَّثَانِيَ تَقْشَعِرُّ مِنْهُ جُلُودُ الَّذِينَ يَخْشَوْنَ رَبَّهُمْ ثُمَّ تَلِينُ جُلُودُهُمْ وَقُلُوبُهُمْ إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ.» (الزمر: ۲۳)

الله يو ډېر غوره کلام نازل کړی، داسې کتاب چې (ايتونه يې) يو بل ته ورته او بيا بيا لوستل کېږي، د هغو کسانو پوستکي ترې لړزېږي چې خپل رب نه وېره کوي، وروسته يې پوستکي او زړونه د الله يادولو په لور نرم شي.

له دې معلومه شوه، چې قرآن له خدای نه په وېرېدونکو کې لړزه پيدا کوونکی کتاب دی، د دې کتاب په اورېدو د بنده وېښته درېږي او پوستکي ترې لړزېږي، لوستونکی د خدای په لور ماتوي او په الهي ذکر کې يې غرقوي. هغوی يې چې کله اوري، نو زړونه يې ويلي کېږي او د سترګو له لارې رابهېږي. د قرآن د اورېدو يا تلاوت په وخت کې په زړه کې بايد د خدای ياد او خشوع پيدا شي، که داسې نه وي، نو دا د دې خبرې ثبوت دی، چې انسان د «زړه د کلکوالي» په ناروغۍ مبتلا شوی دی.(حديد: ۱۶)

په ياد ولرئ، چې له قرآن سره ناآشنا خلک يوازې هغه نه دي، چې دا کتاب ورته «مهجور کتاب» ګرځېدلی دی، چې قرآن يې داسې شاته غورځولی دی، ګواکې هېڅ ورنه خبر نه دي، ګواکې په ژوند پورې يې دا کتاب هېڅ تعلق نه لري، بلکې هغه شخص هم له قرآن نه محروم دی، چاته چې دا کتاب يوازې د ښو غاړو لپاره موزون کلمات په لاس کې ورکوي، د چا لپاره چې مازې د علمي غور او بحث موضوع وي، د چا لپاره چې د هغو حوالو کتاب وي، چې د ليک او

Maulana WAHIDUDDIN KHAN

(c) ketabton.com: The Digital Library


وينا په وخت کې يې اړوي را اړوي. دا عين ممکن دی، چې يوه شخص دې د زړګونو انسانانو په زړه کې يوازې د قرآن په بنياد د خپل شخصيت رسوخ کېنولی وي، خو په اصل کې دې دی له قرآن نه محروم وي. دغه راز که انسان د ژبې او قلم له لارې د قرآن اسرار او معارف بيانوي، خو خپل ژوند يې له دې حقيقتونو خالي وي، نو دا هم د خدای له کتاب نه د محروميت يو ډول دی. نورو ته د الهي کتاب درس ورکول او پخپله په «نسيان» کې پاتېدل، له قرآن سره د تعلق نه، بلکې د بې تعلقي ثبوت دی. (بقرة: ۴۴) که چا د قاموس او نحوې په مرسته قرآني الفاظ حل کړي وي، نو د دې معنا دا نه ده، چې هغه قرآن موندلی دی. قرآن موندونکی شخص يوازې هغه څوک دی، چې د خپل زړه په درزا کې يې قرآن اورېدلی وي، چې هغه حقيقتونه يې په خپلو سترګو ليدلي وي، چې په قرآن کريم کې يې ذکر راغلی دی، چې قرآن يې داسې لوستی وي، ته وا د خپل درون پټه صحيفه يې پخپله ژبه جاري شوې ده. په ياد ولرئ، چې حقيقت موندونکی يوازې هغه څوک دی، چې د خپل زړه په کتاب کې يې حقيقت ليکلی موندلی وي. هغه چې يوازې د لفظي تشريحاتو په مرسته يې حقيقت پېژندلی وي، تر اوسه پورې يې حقيقت نه دی موندلی.

«بَلْ هُوَ آيَاتٌ بَيِّنَاتٌ فِي صُدُورِ الَّذِينَ أُوتُوا الْعِلْمَ.» (عنکبوت: ۴۹) خو (نه) دا څرګند ايتونه دي د هغو خلکو په سينو کې چې علم ورکړی شوی.

د قرآن کريم دغه ځانګړنې چې ښودل شوې دي، هغه په دې برخه کې ډېر زيات ارزښت مومي. د قرآن دا ځانګړنې راته ښيي، چې هغه کوم، کوم اړخونه دي، چې زموږ په ژوند کې يې راتلل دا زبادوي، چې موږ د خدای کتاب موندلی دی. قرآن موندونکی هغه شخص دی، چې مړژواندي روح يې له قرآن نه ژوند اخيستی وي، چې له زړه نه يې زنګ ورصفا کړی وي، چې قرآن ورته هغه نور ګرځېدلی وي، چې په رڼا کې يې دی خپله لاره لنډوي. قرآن هغو خلکو موندلی دی، چې حال يې دا دی، چې کله يې لولي، نو زړونه يې ترې لړزېږي او په خپلو اوښکو يې هرکلی کوي. د قرآن کريم د څښتن په وړاندې يې شخصيت سجدې ته لوېږي. همدا هغه نښې دي، چې ښيي، آيا يوه انسان ته د قرآن کريم حقاني تلاوت په نصيب شوی دی يا نه دی او آيا په رښتيا يې د خدای کتاب موندلی دی او که تر اوسه پورې هم له دې کتاب نه محروم دی.

«إِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَن خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا» (مريم: ۵۸) کله چې پر هغوی به د رحمان ايتونه لوستل کېدل، نو سجده کوونکي او ژړېدونکي به پرېوتل.

دلته بايد په يوه خبره ښه ځان پوه کړو. دا دنيا د امتحان ځای دی. د دې معنا دا ده، چې د دنيا ټول شيان په داسې ډول پنځول شوي دي، چې له يوه شي نه انسان پند هم اخيستی شي او په هماغه وخت کې يې په فتنې کې د لوېدو ذريعه هم کېدی شي. همدا حال د خدای د کتاب هم دی، ارشاد دی چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library


«كَذَلِكَ يُضِلُّ اللَّهُ مَن يَشَاء وَيَهْدِي مَن يَشَاء» (مدثر: ۳۱) په همدې ډول چاته چې الله وغواړي بې لارې کوي يې او چاته چې وغواړي هدايت ورته کوي.

بې له شکه، قرآن د هدايت کتاب دی. خو د انسان خپله څېره چې څومره صفا وي، هماغومره به په هينداره کې ډېره صفا ليدل کېږي. همدا ده، چې له قرآن کريم نه هم انسان ته هغه څه لاسته ورځي، چې حاصلول يې غواړي.

د قرآن کريم په ذريعه د بې لاريتوب يوه بڼه خو دا ده، چې انسان په دې کتاب کې داسې خبرې ولټوي، چې د ده لپاره په قرآن باندې د ايمان د نه راوړو پلمه شي. خو هغه خلک چې قرآن مني، هغوی هم له دې خطر نه خوندي نه دي. له دغه راز احتمالي حالتونو څخه يو دا هم دی، چې تحريف باله شي. ياني په هر څه باندې په پوهېدو سربېره يوازې د دې لپاره چې خپله غلطي سمه ثابته کړي، د الهي کلام الفاظ يا د هغو معناوې وربدلې کړي. (بقره: ۷۵)

بل شی اقتسام دی (حجر: ۹۰) د اقتسام معنا وېشل او تقسيمول دي. د دې مطلب دا دی، چې خدايي لارښوونې په بشپړه معنا ونه منل شي، بلکې د خپل خواهش مطابق ټوټې، ټوټې شي او ځينې برخې ورنه واخيستل شي او ځينې يې پرېښودل شي. دريم شی هغه دی، چې په قرآن کريم کې ورته مضاهاة ويل شوي دي. (توبه: ۳۰) مضاهاة په عربي ژبه کې د **مشاکلة الشئ بالشی** په معنا دی (لسان العرب) ياني يوه شي ته بل شکل او بله بڼه ورکول. د دې معنا دا ده، چې انسان د باطلو ډلو له فکرونو متاثر شي يا د دنيوي مصلحتونو په بنا د هغوی خبرې واخيستل شي او په دې ډول وړاندې شي، چې ګواکې عين له خدايي لارښوونو سره سم يا هغې سره مشابه دی.

تر کومه چې د لومړني حالت (تحريف) خبره ده، د تحريف بنياد په بدنيتي باندې ولاړ دی. او مور ټول له دې بدی سره ډېر ښه بلد يو. خو د دوهم او دريم حالت معامله بيا مختلفه ده. دا فتنه کله نا کله په ډېرو مخلصو خلکو کې هم داسې په پټه لاره وکړي، چې هغوی خبر هم نه وي او دې فتنې خپل کار کړی او هغوی يې له چېرته نه چېرته رسولي وي.

داسې ځکه کېږي، چې انسان په زياترو حالاتو کې په اغېزمن شوي ذهن سره پېښې مطالعه کوي. په ټولنه کې چې د کومو فکرونو ارزښت منل شوی وي، په طبيعي ډول دی د هغو اغېز اخلي. دغه راز د دنيا ګڼ مصلحتونه هم په معصومه څېره کې د هغه مخې ته راځي او بيا بيا يې له ذهن سره تصادم خوري. دا ټول اړخونه په ګډه کله په شعوري او ډېر کله په لاشعوري ډول ده ته يو ذهنيت ورکوي. دا يو حقيقت دی، چې انسان پديدو ته يوازې هغسې نه ګوري، څنګه چې هغوی دي. په زياترو حالاتو کې دی مجبور وي، چې شيانو ته له هغو عينکو وګوري، چې د ده ذهن يې ليدل غواړي. په دې طريقه باندې چې کله يو شخص له خاص ذهنيت سره د قرآن کريم مطالعه کوي، نو په غيرارادي ډول د اقتسام په يوه حالت کې مبتلا شي. دی د قرآن ځينې داسې خبرې خو ور اخلي، چې د ده د ذهن په ساخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځايېدی شي، خو نوري ټولې خبرې شاته غورځوي. په همدې طريقه دی ټول قرآن لولي او فکر کوي، چې د خدای کتاب يې موندلی دی. خو حقيقت دا دی، چې دی له قرآن نه بالکل ناخبره وي. ده د خدای د کتاب لويه برخه پرېښې وي او د کتاب بعضي برخې يې د خودساخته مفهوم له مخې منلې وي. ده يوازې هغه څه موندلي وي، چې ترمخ لا د

تصوف هم چې د ځينو څېړونکو په نزد د يوناني کلمې تيوسوفيا (Theosofia) عربي بڼه ده، همداسې يوه پېښه ده، چې د دوهمې هجري پېړۍ په وروستۍ نيمايي کې يې مازې د خارجي اغېزو له مخې اسلام ته لاره وکړه.

ده په ذهن کې موجود و او د هغو په تائيد کې په تصادف سره د قرآن ځينې آيتونه هم په لاس ورغلل. د داسې انسان مثال د هغه تعليميافته ځوان په څېر دی، چې له خپلې بې‌کارۍ پرېشانه وي او يوازې د «کار موندنې» د خبرتياوو د ليدو لپاره ورځپاڼه مطالعه کوي. امکان لري، چې دا ځوان له دې مطالعې نه د دندو ځينې ادرسونه پيدا کړي، خو د دنيا له سياست نه به ناخبره وي او د ورځپاڼې د مطالعې اصلي مقصد به يې نه وي حاصل کړی.

دغه راز د مضاهاة خرابي هم په انسان کې په پټه خوله لاره کوي. په دې فتنه کې د چاپېريال د شخصي- اغېزو په خوا کې تبليغي اړتياوې هم څه نا څه لاس لري، ياني دا فکر چې خلکو ته چې زه کومې خبرې کوم، هغه بايد داسې وي، چې د خلکو ذهن ته نيږدې وي، تر څو هغوی يې ومني. بله دا چې خبره په داسې الفاظو او اصطلاحاتو کې وړاندې شي، چې د وخت فکري معيار يې ارزښت ته غاړه کېږدي، د وخت له علمي افکارو سره خوا په خوا ځای پيدا کړای شي. سره له دې چې په خپل ذات کې دا کار غلط نه دی، خو ځينې وختونه دا فتنه د انسان په ذهن کې د خدايي لارښوونو يو داسې انځور ساز کړي، چې تر اصل لارښوونو نه ډېر، د وخت له نظرياتو سره مطابقت لري. له خدايي لارښوونو سره يې جزوي مشابهت خو وي، مګر د حقيقت په لحاظ په اسلامي الفاظو او اصطلاحاتو کې د غيراسلامي افکارو ترجماني وي. که بې ځايه جرأت نه وي، نو يو عرض به وکړم، چې تصوف هم چې د ځينو څېړونکو په نزد د يوناني کلمې تيوسوفيا (Theosofia)[1] عربي بڼه ده، همداسې يوه پېښه ده، چې د دوهمې هجري پېړۍ په وروستۍ نيمايي کې يې مازې د خارجي اغېزو له مخې اسلام ته لاره وکړه. زموږ پخوانيو مشرانو چې کله د اسلام له

---

[1] تيوسوفيا د يوناني ژبې له دوو کلمو نه رغېدلې ده، Theos د خدای او Sofia د پوهې او حکمت په معنا ده. په انګريزي ژبه کې له معمولي بدلون وروسته دا کلمه د Theosophy په بڼه کارېږي. تيوسوفي د هغې عقيدې يا اصل لپاره د اصلاحي کلمې په توګه کارېږي، چې هر شخص د خپل روحاني وجدان له لارې نېغ په نېغه د خدای معرفت ته رسېدلی شي.

پیغام سره له عربي ټاپووزمې نه دباندې نورو هېوادونو ته مخه کړه، نو هغوی خپل ځان په یوه داسې دنیا کې وموندہ، چې ځینو مخصوصو افکارو او اعمالو د خلکو په ذهنونو وزرې غوړولې وې او له هغو پرته د مذهب او مذهبي ژوند تصور نه شوای کېدی. خبره همدومره نه وه، بلکې د دې افکارو او اعمالو تر شا یوه برجسته فلسفه هم ولاړه وه. دې شیانو د یو څه دعوتي مصلحت او یو څه انفعالي تصور له مخې زموږ مشران دې ته وهڅول، چې هغوی اسلام په هغه رنګ کې وړاندې کړي، چې خلک له پخوا نه ورسره مانوس او اشنا دي. په دې سره له نبوت نه تقریباً دوه سوه کاله وروسته د اسلام صوفیانه تعبیر زموږ تاریخ ته راننوت.

خو اوس په لرغوني روحاني طرز کې د فکر کولو زمانه پای ته رسېدلې ده او موږ په یوه داسې دنیا کې ساوې لندوو، چې هرې خواته د اقتصادي او سیاسي تحریکونو زور دی. د نن ورځې انسان عموما په داسې انداز کې فکر کوي، چې اوسنی ټولنیز نظام بدل کړي او په یوه بل بنیاد د دنیا نظام وچلوي. دا هماغسې یوه نوې فتنه ده، چې زموږ اسلاف ورسره مخ شوي وو. که هغه فتنه د روحاني اصلاح فتنه وه، نو دا د مادي اصلاح فتنه ده. که اوس موږ دا فتنه ونه پېژندله او د خپل ذهن د حفاظت هڅه مو ونه کړه، نو موږ به هم د دین په تعبیر کې هماغسې غلطي وکړو، چې له دې نه مخکې صوفیای کرامو کړې ده. او بیا به د قرآن کریم یو نوی تفسیر ولیکل شي او د روحاني تصوف په څېر به اسلام په یوه نوي سیاسي تصوف بدل کړو. او بیا به له ټولو هغو نتایجو سره مخ کېږو، چې د سیاسي غورځنګونو لپاره ټاکلي دي.

اوس لمونځ در واخلئ. لمونځ د دین بنیادي ستنه ده. له لمانځه پرته حتی د انسان ایمان هم معتبر نه دی. لمونځ د انسان لپاره د نجات ذریعه ده. (حدیث) خو دا فایده یوازې له هغه لمانځه نه حاصلېږي، چې د خشوع لمونځ وي، هغسې چې ارشاد دی:

«قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ. الَّذِينَ هُمْ فِي صَلاَتِهِمْ خَاشِعُونَ» (المؤمنون: ۱-۲) حقیقتاً هغه مؤمنان بریالي کېدونکي دي، چې په خپل لمانځه کې عاجزي کوونکي دي.

زه به دلته د ځینو ټکو یادونه وکړم، چې له هغو نه به دا معلومه شي، چې د خشوع لمونځ څه وي او نښې یې څه دي.

لومړنی خبره دا ده، چې له دې نه مراد هغه لمونځ دی، چې داسې ولوستل شي، چې انسان وربانـدې څارونکی او محافظ ګرځېدلی وي.

«حَافِظُواْ عَلَى الصَّلَوَاتِ» (بقرة: ۲۳۸) د ټولو لمونځونو او منځ ساتنه (ټینګتن) کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library
الـــرسالـه

دلته له ساتنې (ټينګتن) مراد دا دى، چې انسان خپل ورځنى ژوند له هر هغه څه نه وژغوري، چې پـه لمانځـه کـې يـې خلى ګرځي، چې له امله يې دى خپل لمنځونه په سمه توګه ترسره نه شي کړاى. په دې کې وخت تـه پـام پـه ځـانګړې توګه شامل دى. د لمانځه حفاظت، د خپل برجسته مفهوم له مخې، د وختونو د مخافظت بـل نـوم دى. لـمونځ د مؤمنـانو لپاره «کتابٌ موقوت» دى، چې په ټاکلو شېبو کې به يې له «رکوع کوونکو» سره په ګډه سرتـه رسـوي. د همـدې لپـاره انسان بايد له هر هغه عادت او بوختيا نه خپل ژوند وژغوري او پاک يې کړي، چې پـه وخـت بانـدې د لمانځـه لـه تـرسره کولو يې راګرځوي يا د تکبيرِ تحريمه په وخت کې په صف کې ونه ليدل شي.

په ټاکلي وخت د لمانځه لپاره حاضربدل مازې د يوځي ډسپلن شى نه دى، بلکې لـه آره د بنـده لـه لـوري د دې خـبرې اظهار دى، چې دى د خپل واکمن په غږ باندې سمدستي منډې ته تيـار دى. د دې معنـا دا ده، چـې کلـه د خـداى لـه کوره د «راشئ د لمانځه په لور» اواز پورته کېږي، نو د خداى بنده له خپل هر ډول بوختيـاوو نـه لاس اخـلي او د خـداى بلنې ته منډه وراخلي. دا د خورا امادګي او د خورا پياوړي تعلق ثبوت دى. د وخت له راتلو سره سم د لمانځه په لور منـده وهل د دې خبرې اظهار دى، چې انسان په خپل ژوند کې لومړنى مقام يوازې خداى ته ورکړى دى. خو يو شخص چې داسې نه کوي، هغه ګواکې د دې خبرې اعلان کوي، چې له خداى نه بغيـر يـې نـور شـيان هـم پـه خپـل عبـادت کـې شريک کړي دي. يا خو دى د بې حسي ښکار دى يا کوم بل مصروفيت ته يې په خپل ژوند کې هغه مقام ورکـړى دى، چې په اصل کې بايد د خداى مقام واى.

د جوماتونو صف‌بندي په اصل کې د خداى په دربار کې د درېدو وخت دى. ځوک چې په دې مهم‌ترين وخت کـې د خداى په کور کې تر سترګو نه شي يا ناوخته ورسېږي، هغه ګواکې د دې ثبوت ورکوي، چې ده ته د خداى لـه بلنـې نـه ډېر د خپل نفس اواز ډېر ګران دى. عين په هغه وخت کې هم دى خپل ځان په نورو بوختياوو کې مصروف ساتي، چې د خداى بندګان د خداى په حضور کې د درېدو په حال کې وي. د داسې انسان په اړه همدا ويلى شو، چې دى د خداى له ياد نه غافل دى.

د يوه امام قصه ده. د ده مقتديان به عموما ناوخته د لمانځه لپاره راتلل. يوه ورځ لمونځ پيل شـو، نـو چـې تـر شـا يـې د پخوا په څېر يو څو تنه ولاړ وو، او چې کله امام سلام وګرځاوه، نو ټول صف يې ډک وليده. نو د دې صحنې په ليدو يې بې اختياره له خولې ووتل، «کاش الله تعالى مې د متقيانو امام کړي. د داسې خلکو امامت خو زه ناروغ کـړى يـم، چـې حال يې دا دى، چې کله لمونځ شروع شي يا يې يوه برخه تېره شي، نو دوى په منډو ورتـه راروان وي او اخـوا دېخـوا پـه کتارونو کې ودرېږي. په خداى دا هغه لمونځ نه دى، چې الله او رسول صلى الله عليه وسلم ته مطلوب دى. دا لـه تـنبلي

Maulana
WAHIDUDDIN KHAN

(c) ketabton.com: The Digital Library


سره د خدای عبادت ته ورتلل دي، چې قلیل ذکر بلل شوی دی، یا هغه سهو لمونځ دی، چې په قرآن کریم کې سخت وعید وربانديې راغلی دی.»

په تېره د سهار لمونځ چې«مشهود لمونځ»[2] دی، (بني اسرائیل: ۷۸). دې لمانځه ته چې څوک په وخت ځان نه رسوي او په کې حاضر نه وي، نو دا ډول انسان خپل ځان له دې خطر سره مخ کوي، چې د الله تعالی د مرستې جامه ورنه وایستل شي او د شیطان پر وړاندې هېڅ پناه ورسره پاتې نه شي. هغسې چې په حدیث کې راغلي دي: «**مَنْ صَلَّى صَلاةَ الصُّبحِ فَهُوَ فِي ذِمَّةِ اللَّه، فَلا يَطْلُبَنَّكُم اللَّهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ، فَإِنَّهُ مَنْ يَطْلُبْهُ مِنْ ذِمَّتِهِ بِشَيْءٍ يُدرِكْه، ثُمَّ يَكُبُّهُ عَلَى وجْهِهِ فِي نَارِ جَهَنَّم**» (**مسلم**) څا چې د سهار لمونځ وکړ، نو هغه د خدای مسؤلیت وگرځېده. نو داسې نه وي، چې خدای د خپل مسؤلیت په اړه له تاسې د کوم شي غوښتنه ونه کړي. ځکه که خدای لـه چانـه د خپـل مسؤلیت پـه اړه د کـوم شي سوال وکړ، نو الله به یې راونیسي او پړمخې به یې د جهنم په اور کې وغورځوي.

د سهار لمونځ د حدیث په ژبه کې د «سپېده چاود» لمونځ دی او د نورو لمنځونو سریزه ده. هره ورځ چې د سهار سپينه رڼا د لمر د راتلو خبرتیا ورسره راوړي، نو دوه ډوله فرصتونه د انسان لپاره خپله غېږه پرانیزي. یو د دنیا کار، بل د اخرت کار. په هغه شېبه کې چې مؤذن له لوړ ځای نه اواز کوي:

«**حَيّ عَلَى الصَّلٰوةِ، حّي عَلَى الفَلَاح**» راشئ د لمانځه په لور، راشئ د بریا په لور.

دا اواز انسان ته بلنه ورکوي، چې د خپلې ورځې د فعالیتونو له پیلولو نه مخکې د خدای کار ته ورشي ، د سهار لمونځ ترسره کړي او خپله دا اراده څرگنده کړي، چې دی به خپلې راتلونکې شېبې د اخروي بریا پـه تـرلاسې کې لگـوي او راتلونکې ورځ به د خدای په عبادت کې تېروي. خو په همدې وخت کې یو بل څوک هم اواز کوي. دا د انسان دښمن شیطان دی، چې د یوه یوه تن په زړه کې دا خبره اچوي، چې خپله ورځ یوازې د دنیا په ترلاسې کې ولگوه.

لومړنی اواز له دېوالونو سره وجنگېږي او بېرته راوگرځي. په زرگونو خلکو کې یوازې څو داسې کسان د جومات لپاره وځي چې عمر یې خوړلی وي یا د بل هېڅ کار وس او توان نه لري. خو د دویـم اواز پـه اوریـدو هـر سـړی متوجه شي، دهقان د خپلو کروندو لپاره ووځي، تجار د کیلیانو لوی، لوی بندونه ورسره واخلي او د خپلـو دوکـانونو پـه لـور روان شي. ماموران خپلو دفترونو ته تیاری پیل کړي او ډېری داسې خلک چې ارام یې خوښ دی، هغوی په دې زرین وخت کې په خپلو نرمو بسترو کې ځان پېچل تر هر څه ډېر مناسب ویني.

---

[2] د مشهود لمانځه معنا ده، د حاضرۍ لمونځ، د مخامختيا لمونځ.

Maulana Wahiduddin Khan

ځومره غافل دی انسان، چې هغه وخت هم محروم پاتې کېږي، چې د ترلاسي امکانات تر ټولو ډېر وي. یوه داسې دروازه چې هره ورځ د انسان په مخ وازېږي، خو نادانه انسان یې هره ورځ په ځان پسې پورې کوي.

د خشوع د لمانځه بله نښه دا ده، چې په لمانځه کې د انسان ټیټېدل د ده په ټول ژوند کې د همداسې ټیټېدو بېلګه شي. د ده رکوع او سجده په اصل کې د دې خبرې عملي اقرار وي، چې ده خپل ټول ژوند د خدای په وړاندې په ګونډو کړی دی، او په بشپړه معنا د خدای امر ته پابند ګرځېدلی دی. د همدې لپاره ویل شوي دي:

«إِنَّ الصَّلَاةَ تَنْهَى عَنِ الْفَحْشَاءِ وَالْمُنكَرِ» (عنکبوت: ۴۵) بې شکه لمونځ له بې حیایي او ناوړه کارو څخه ایسارول کوي.

یوه نبي چې کله خلکو ته د خدای د عبادت کولو دعوت ورکړ، نو قوم یې چې د خپل ژوند واګې یې خپل نفس ته سپارلې وې او هېڅ دې ته اماده نه و، چې د بل چا د اطاعت نظام ته غاړه کېږدي، ځواب ورکړ:

«يَا شُعَيْبُ أَصَلَاتُكَ تَأْمُرُكَ أَن نَّتْرُكَ مَا يَعْبُدُ آبَاؤُنَا أَوْ أَن نَّفْعَلَ فِي أَمْوَالِنَا مَا نَشَاءُ» (هود: ۸۷) ای شعیبه! ایا لمونځ دې امر درته کوي چې موږ هغه څه پرېږدو چې پلرونو مو لمانځلو؟ یا دا چې څنګه مو خوښه وي خپلو مالونو کې واکمني وکړو؟

له دې نه معلومه شوه، چې لمونځ مازې رسمي غوندې پرستش نه دی، بلکې خپل ټول وجود او خپله ټوله شتمني د خدای په وړاندې د غورځولو نوم دی. د دې معنا دا ده، چې بنده د خدای په حضور کې ټیټېږي او د حال په ژبه وایي چې «زما واکمنه! ته راته امر وکړه، زه به ستا امر سرته ورسوم.» د دې اقرار باوجود که تاسو ولیدل، چې د بنده د جومات لمونځ د هغه د ټول ژوند لمونځ نه دی ګرځېدلی، نو د دې معنا دا ده، چې دی تر اوسه پورې هم د خشوع له لمانځه نه محروم دی. د قرآن کریم له صراحت سره سم، هغه لمونځ چې د «شهواتو پیروي» ورسره غوټه وي، هغه داسې لمونځ دی، چې د لمانځه روح په کې ضایع شوی دی. (مریم: ۵۹)

ځینې خلک په دې غلطپوهاوي کې ښکېل دي، چې د دوی لمنځونه به سم نه وي، خو لږ تر لږه لمونځ کوي خو او دا هم په هر حال کې د فرضو د په ځای کولو لپاره بس دي. خو دا یوازې د شیطان فریب دی. په یاد ولرئ، چې الله تعالی ته مطلوب شی کم ذکر نه دی، بلکې ډېر ذکر ورته مطلوب دی. کم ذکر خو د منافقانو نښه ښودل شوې ده. (نساء: ۱۴۲)

د خشوع د لمانځه دریمه نښه او وروستۍ نښه دا ده، چې انسان کله په لمانځه ولاړ وي، نو خپل ځان خدای ته بیخي نیږدې احساس کړي. هغسې چې ارشاد دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library


«وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ» (علق: ۱۹) سجده کوه او ورنیږدې شه.

د قربت سجده څه شی ده، ممکن په الفاظو کې نه شي بیانېدی. کله چې انسان دې حال ته ورسېږي، نو داسې احساس ورته دربړي، چې یو نالیدلی حقیقت په بشپړ یقین سره ګوري، یوه خورا لرې څه ته خورا ډېر ورنیږدې دی، د مخاطب له نشتوالي پرته په کامیاب‌ترین ګفتمان کې مصروف دی او د یوه هیبتناک شي لپاره له بل هر شي نه ډېر د مینې جذبات په ځان کې تجربه کوي. یو داسې څه چې په ظاهره د هیڅ وسیلې په مټ هم نه شي محسوسېدی، هغه ته له هر ډول وسیلې پرته رسېدلی دی.

ګواکې سجده، چې د لمانځه وروستی مقام دی، هغه په همدې شبېه کې خدای ته د نیږدېکت وروستی مقام هم دی. د لمانځه په شکل کې الله تعالی زموږ لپاره دا چاره کړې ده، چې موږ په همدې دنیا کې د هغه ملتیا او قربت حاصل کړو. د لمانځه له لارې چې کله انسان خپل ځان خدای ته متوجه کوي، نو بنده په روحاني لحاظ له خدای سره وصل شي، بنده په ځان د الهي یاد داسې حالت وارد کړي، چې دی په بشپړه توګه یو حسي- وجود وګرځي او د لنډې وقفې لپاره خپل ځان په خدای کې محوه کړي. د وحدت وجود تصور به غالباً په خپله ابتدایي بڼه کې مازې د همداسې کیفیت د بیان لپاره و، چې په الهي تصور کې د محوه کېدو په وخت کې په انسان واردېږي. خو وروسته د منطقي تعین نکته‌چینیو د همه اوست تر مبهمې فلسفي پورې ورساوه. که د دې بدنامې عقیدې په اړه زما تشریح سمه ومنل شي او مازې د حسیاتي ارتباط په مفهوم کې واخیستل شي، نو زه به ووایم، چې د قربت د سجدې په وخت کې چې په انسان کوم کیفیت نازلېږي، د هغه کیفیت د اظهار لپاره به شاید په انساني ژبه کې وحدت وجود ډېر نیږدې تعبیر وي. چې کله د ځان سپارنې شبېه راشي، چې کله د عاجزۍ او محدودیت پیکر خپل ځان لامحدود کمال ته حواله کړي، چې کله تندی داسې کشش محسوس کړي ته وا له ځمکې سره سرېښ شوی دی. په همدې وخت کې داسې محسوسېږي، ګواکې قطرې خپل ځان په سمندر کې غورځولی دی، ګواکې انسان له خدای سره یو ځای شوی دی.

## پایله

دا مقاله د تلاوتِ حق او صلوة الخشوع لنډه تشریح ده، چې ما ستاسې مخې ته کېښودله. دا نوې خبرې نه دي. هر هغه شخص چې قرآن یې لوستی دی، په دې خبرو ډېر ښه خبر دی. خو بیا هم ما دا خبرې ستاسې په مخکې تکرار کړې، تر څو تاسو ته دا خبرې در په زړه کړم او دا ژمنه درنه واخلم، چې تاسو به یې په خپل ژوند کې عملي کوئ. په تاسو کې به هر شخص له بل چا سره نه، بلکې ځان سره به په دې تړون بیعت کوي، چې خپل علم به خپل احساس ګرځوي. په څه چې پوهېږي، هغه به کوي چې هغه محسوس هم کړي. که تاسو په رښتیا دا اقرار وکړ، نو یقین وکړئ، چې دا کاینات به ستاسې لپاره د سلام او مرحبا له اواز سره داسې ولړزېږي، چې ستاسې غوږونه به هم دا اوازونه

Maulana WAHIDUDDIN KHAN

(c) ketabton.com: The Digital Library


اوري، او ستاسې لپاره به د خدای د جنت دروازې داسې پرانیستل شي، چې تاسو به په ژوندوني لا د جنت ورمې محسوسوئ. او که تاسو د دې ژمنې لپاره اماده نه اوسئ، نو ټول هغه څه چې په رڼا کې دي او ټول هغه څه چې په تیارو کې پټ دي، شاهدي ورکوي، چې د خدای په نزد نور ستاسې لپاره هېڅ عذر پاتې نه دی. په دې خبرې سره چې تاسو له پخوا نه په دې خبرو پوه وئ، په خپل ځان مو حجت او دلیل ختم کړ. که له دې وروسته هم تاسې نه بدلېږئ، نو زه نه پوهېږم، چې هغه کومه اسره ده، چې تاسو د هغې په مټ د رب العالمین پر وړاندې دومره لویه زړورتیا کوئ.

## د صنعتي نظام تضاد

ایرک ګِل (Eric Gill) لیکلي دي: «موږ په کارخانو کې انسانانو ته اړتیا نه لرو، ماشینونه له انسانانو نه غوره کار کولی شي. د ماشینونو د ایجادولو او کارولو تر ټولو لوی مقصد د انساني زحمت سپمول دي، نو موږ ماشینونه نه، بلکې انسانان باید له منځه یوسو. خو هغه انسان چې موږ یې له دنیا نه ورکول غواړو، هغه انسان دی، چې په کارخانه کې کار کوي، نه په کلي کې اوسېدونکی انسان. په کلیو کې مېشت انسانان زموږ ملګري دي، زموږ دوستان دي. ځکه دوی زموږ مالونه پېري. د نن ورځې تر ټولو مهمه مسئله دا ده، چې په څه ډول په تولید کې د انساني زحمت لاس غوڅ کړای شي، او بل لوري ته د مصرفوونکو (Consumers) شمېر او د هغوی د خریداري ځواک ته وده ورکول شي. همدا زموږ بنیادي مسئله ده. جرړه یې هم همدا ده او ښاخ یې هم همدا دی.»

دا د صنعتي نظام هغه مسئله ده، چې په اوسني ساخت کې ورته هېڅ حل لاره نشته. په پخوا زمانه کې به انسان په خپل زحمت پیدوار چمتو کاوه او بیرته به انسان هغه پیداوار رانیوه. په دې توکه د اقتصادي عمل په منځ کې کوم تضاد نه و. اوس د ټکنالوژۍ په عصر کې ماشین پیدوار چمتو کوي. حال دا چې د دې توکو اخیستونکی اوس هم هماغه انسان دی. دې حالت د اقتصادي عمل ترمنځ تضاد پیدا کړی دی. یانې د انسان او پیدوار ترمنځ فاصله. معاصر صنعتي نظام له یوه لوري پیدوار په ډېر ویاړ سره ډېروي، بل لوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د خریدارانو شمېر ورو په ورو کمېږي. د ماشین پرمختګ دا دی، چې د کارمندانو شمېر تر ورستي بریده راکم کړي.

خو دغه درنده ماشینري چې کوم پیداوار تولیدوي، د هغه د استعمال لپاره د خریدارانو لوی شمېر ته هم اړتیا ده. دا خریدار به له کومه کېږي، په داسې حال کې چې پخپله ماشین په ټول اقتصادي عمل باندې منګولې خښې کړې او هغوی یې بې روزګاره کړي دي او په پایله کې یې د هغوی د خریداري ځواک هم له منځه وړی دی.

دا دی هغه تضاد، چې د نن ورځې صنعتي نظام ورسره لاس و ګرېوان دی. د دې نظام کامیابي ښېرته د هغه ناکامي ګرځېدلې ده. د دې نظام تر ټولو لویه کامیابي دا ده، چې درنه ماشینري ایجاد کړې او د کارګرو شمېر راټیټ کړي. خو د کارګرو شمېر کمول له عملي پلوه د خریدارانو شمېر کمول دي. په دې ډول د ماشیني عمل وروستی معنا همدا شي، چې هغه ګرانبیه تولیدات چې د دې عمل د تخنیکي کمالاتو په برکت تیارېږي، همدا عمل د دې سبب ګرځي، چې په بازار کې د دغو تولیداتو د رانیولو لپاره خریدار نه وي.

***

**د کارل مارکس (۱۸۱۸ – ۱۸۸۳) د سرمایه (Das Capital) کتاب لومړنی چاپ چې په الماني ژبه کې خپور شو، نو د دې کتاب په خرڅلاو باندې دومره کلونه ووتل، چې عایدې یې د کارل مارکس د سیګرټو لګښت هم نه شوای پوره کولی. خو د همدې کارل مارکس په کتابونو، د هغو په ژباړو او شرحو دومره بې شمېره اداري جوړې دي، چې زرګونه خلکو ته په کې د لوړې کچې روزګار برابر دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نادانه ملګرتیا

هسې وايي، چې په يوه زمانه کې ډېر لوی سېلاب راغی. يوه بيزو او يو کب په دې سېلاب کې بند پاتې شوو. بيزو تېزه وه. ټوپونه يې ووهل، يوې ونې ته وخته او کرار په يوه ځانګه باندې کېناسته او د سېلاب له توپاني څپو نه خوندي شوه. خو اوس يې چې لاندې وکتل، ويې ليدل، چې کب له توندو څپو سره ډغرې وهي او د څپو په خلاف په هلو ځلو کې مصروف دی. بيزو فکر وکړ، چې کب بې وزلی په توپان کې بند پاتې دی، نو په ډېر خواخوږي زړه او نېک نيت لاندې راکوزه شوه او کب يې له اوبو نه وايسته او په وچه کې يې وغورځاوه. له دې وروسته چې څه وشول، د هغه بيانولو ته حاجت نشته.

له ناپوه سره د ملګرتيا دا تمثيل د ايډيسن په ژوند کې يوه رښتيني پيښه هم پاتې شوې ده. ويل کېږي، چې ايډيسن يو سپی ساتلی و، چې په ده باندې ډېر زيات ګران و. يوه ورځ يې سپی د مطالعې په خونه کې ناست و. په مېز باندې اړين کاغذونه خواره واره پراته وو او د خاورينو تېلو څراغ روښانه و. دې وخت کې يو پتنګ خونې ته راننوت او له څراغ نه يې طوافونه پيل کړل. سپي تر

> **کار يوازې هغه دی، چې د خپل مثبت فکر په زور وجود ومومي. د خارجي حالاتو په خلاف د عکس العمل په توګه چې يو کار ترسره شي، هغه کار نه دی، جذباتي براس دی. دغه راز جذباتي براس لنډمهاله شر او شور خو زېږولی شي، مګر د حقيقي پايلې هيله ورنه لرل، داسې دی، لکه د سپي له غپا نه چې د بلبل د نغمې تمه وشي.**

ډېره پورې دې صحنې ته کتل. خو اخر يې دا ونه شوی زغملی، چې د ده د څښتن په مېز باندې دې يو پتنګ ولکه ټينګه کړي. سپي د پتنګ د رانيولو لپاره ټوپ واچاو.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پتنگ خو والوت، البته څراغ مات شو او په مېز باندې د تېلو د بهېدو له امله سمدستي اور ولګېده او کاغذونه وسوځېدل. ايډيسن چې دا پېښه وليده، نو ويې ويل: «زما ګرانه سپيه! هېڅ خبر نه يې، چې څه دې وکړل.»

په اوسنی زمانه کې زموږ رهبرانو هم د حيرانتيا تر بريده همدغسې کارنامې ترسره کړې دي. په دوی کې هر يو د ملت د اصلاح او د اسلام د احيا له شعار سره راپورته شو. خو هر يوه داسې د ناداني ټوپونه ووهل، چې اصلي مقصد خو حاصل نه شو، البته نوې، نوې مسايل او نوې، نوې غوټې ورسره پيدا شوې، چې په پايله کې يې ربړه تر پخوا هم ډېره پېچلې شوه. د ناداني له اقدام نه خورا بهتره دا ده، چې هېڅ اقدام ونه شي.

# تاريخ سترګې په لار دی

د اسلامي نړۍ د همغږۍ ټولنې (مکه) په دوو سوو مخونو کې يو عربي کتاب خپور کړی دی، چې نوم يې دی: **لماذا اسلمنا** (موږ ولې اسلام قبول کړ؟) په دې کتاب کې د اوسنی زماني ۴۲ نويو مسلمان شويو کسانو په خپل لاس خپل حالات ليکلي دي. په دې ډله کې څو تنه جاپانيان هم دي. دې خلکو په ډېر شدت او يقين سره دا فکر ځرګند کړی دی، چې په جاپان کې د اسلام د خپرېدو ډېر غيرمعمولي فرصتونه پراته دي. علي محمد موري جاپاني ليکي، چې جاپان له جغرافيوي پلوه د روسيې او امريکا ترمنځ پروت دی، د همدې لپاره دواړه بلاکونه هڅه کوي، چې په جاپاني قوم کې خپلې اغېزې وښندي. خو يو لوری هم په دې هڅه کې نه دی بريالی شوی. په دې چې د جاپان د روحاني سوال ځواب له دوی سره نشته. له دوهمې نړيوالې جګړې وروسته په جاپاني زلميو کې د نويو ارزښتونو د لټون ډېره شديده جذبه راوپارېده. دې فرصت څخه عيسوي مبلغينو ګټه پورته کړه او د جاپان په نوي نسل کې د عيسويت يوه هوا راوچلېده. خو ډېر ژر جاپانيانو ته له دې مذهب نه وحشت پيدا شو. ځکه هغوی داسې احساس کړه، چې د عيسوي مبلغينو تر شا د بريتانيا او امريکا استعماري مقاصد لاس په کار دي. (۱۵۴)

عمر ميتا جاپاني چې قرآن کريم يې جاپاني ژبې ته ژباړلی دی، ليکي، چې په جاپان کې د اسلام لپاره يو عظيم راتلونکی سترګې په لاره دی، جاپانی قوم د رښتوني مذهب تږی دی او په هېڅ ډول مذهبي تعصب باندې هم لړلی نه دی. د همدې لپاره که د هغه مخې ته د فطرت دين کېښودل شي، نو ډېر ژر به ورته راوړاندې شي. عمر ميتا د نړۍ له مسلمانانو غوښتنه کړې ده، چې داسې وګړي جاپان ته واستوي، چې دې قوم ته د خدای رښتونی پيغام ورسوي. (۱۵۱)

محمد سليمان تاکيوتشي- جاپاني ليکي، چې د جاپان اوسني حالات د اسلام د خپراوي لپاره خورا مناسب دي.

د دې وجه دا ده، چې جاپان د مادي پيشرفت انتها ته له رسېدو وروسته اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library

له روحاني نااميدي سره لاس و ګرېوان دی. په دې چې دې پرمختګونو د ده روح ته تسکين نه دی ورکړی. دی وايي، چې په جاپان کې کـه پـه مناسبه اندازه د اسلام خپراوي ته کار وشي، نو يوازې په دوه درې نسلونو کې به په ټول هېواد کې اسلام خپور شي. او که داسې وشي، نو دا بـه پـه شرقِ اقصی کې د اسلام د ستر نصرت په معنا وي او بلاخره ټولې انساني دنيا ته به يې اغېـزې وزرې وکـړي. (١٦٧)




***

يوه سړي کاروبار پيل کړ او په ډېره زياته خواري او هلو ځلو يـې ښـه پرمختـګ وکـړ. يوه ملګري يې د اختر مبارکي کارت ورته ولېږه او پرې ويې ليکل: «د ځـان جـوړوونکي انسان په نوم، چې د قطب مينار هسکو ته هم رسېدلی شي.»

هغه خلک نور هم خوش‌بخته دي، چې د ايمان او اسلام هسکو ته ورسېږي. د اخـرت په ورځ به د خدای پرښتې دغو خلکو تبريکي ورکـوي او ورتـه وايـي بـه چـې «پـه تېـر ژوند کې تاسو د نن ورځې لپاره خواري کړې وه. اوس يې بې حسـابه انعامونـه ترلاسـه کړئ او د تل لپاره د خدای جنت ته ننوځئ.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



# له ادم نه تر عیسی پورې




د خدای له لوري ټول رسولان د دې لپاره استول شوي دي، چې انسان د ژوند له حقیقت نه خبر کړي، دا حقیقت چې د دې دنیا ژوند، د انسان د ابدي ژوند یوه ازمایښتي وقفه ده او له شاوخوا سل کلن ژوند وروسته مـوږ خپلې تلپاتې دنیا ته داخلیږو، چې هلته د خدای د وفادارو بندګانو لپاره جنت دی او د هغه د نافرمانه بندګانو لپاره جهنم.

آدم علیه السلام لومړنی انسان هم و او لومړنی رسول هم. له هغه وورسته تـر حضرت مسیح علیـه السـلام پـورې مسلسل د خدای پیغمبران راتلل. د ابو امامه په روایت کې راغلي دي، چې ابو ذر غفاري له نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه د نبیانو د شمېر په اړه سوال وکړ. نو نبي کریم ص وفرمایل، چې یو سل او څلورویشت زره. په دې ډله کې درې سوه پنځلس یې رسولان وو. (رواه احمد و ابن راهویه في مسندیهما و ابـن حبـان في صـحیحه و الحـاکم في المستدرك) د خدای دې استازو بېلابېل قومونه او نفوس له پاسنې حقیقت نه خبر کړل او له خـدای نـه د وېرې د ژوند وعظ و تلقین یې ورته وکړ. خو په انسانانو کې ډېر کم داسې پیدا شول، چې خپله ازادي دې خدای ته حوالـه کړي. حضرت یحیی علیه السلام هېڅ ملګری ونه مونده او ووژل شو. حضرت لـوط علیـه السـلام چـې خپـل قـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرېښوده، نو يوازې خپلې دوه لوڼې ورسره وې. له حضرت نوح عليه السلام سره، د هغه د کښتۍ په قافله کې، د تورات د بيان له مخې، يوازې اته کسان شامل وو. حضرت ابراهيم عليه السلام چې له خپل وطن عراق نه ووت، نو خپله مېرمنه ساره ورسره وه او خپل وراره لوط عليه السلام يې و. وروسته يې په دې قافله کې دوه زامن اسماعيل او اسحاق هم شامل شوو. حضرت مسيح عليه السلام له خپل ټول کوشش وروسته يوازې دوولس تنه وموندل، چې هغوی هم په وروستي وخت کې ورنه وتښتېدل او دی يې تنها پرېښوده.

د زياترو انبياوو حال همدا پاتې شوی دی، څوک يوازې پاتې شو. چا يوازې يو څو تنه ملګري پيدا کړل. په هغو يو څو کې به هم ډېری د پيغمبر د خپلې کورنۍ غړي وو چې د خپلوۍ اړيکه به د دې يوه اضافي انګېزه شوه، چې د پيغمبر ملګرتيا وکړي. د قرآن کريم دا آيت په دې ټول تاريخ باندې يوه تبصره ده:

«يَا حَسْرَةً عَلَى الْعِبَادِ مَا يَأْتِيهِم مِّن رَّسُولٍ إِلاَّ كَانُوا بِهِ يَسْتَهْزِؤُون» (يس: ۳۰) های افسوس په بندګانو، هغوی ته به هېڅ داسې کوم رسول نه راته چې په هغه به يې ملنډې نه وهلې.

په انساني نسل کې د خدای په نزد تر ټولو مهم شخصيتونه هغه دي، چې د پيغمبر په نوم يادېږي. خو عجيبه خبره ده، چې په ټول تاريخ کې همدا ډله تر ټولو ډېره بې ارزښته پاتې شوې ده. د پادشاهانو او سپه سالارانو واقعات خو تاريخ په بشپړه توګه خوندي کړي دي. خو له آدمه تر عيسی پورې هېڅ نبي داسې نشته، چې په ميتوديک ډول دې يې په ليکلي تاريخ کې ځای موندلی وي. تر دې چې د زياترو پيغمبرانو خو نومونه هم موږ ته معلوم نه دي. د دې وجه دا ده، چې شاوخوا ټولو انبياوو ته دا ورپېښه وشوه، چې قوم يې له هغوی نه انکار وکړ، د هغوی کورونه يې ور ويجاړ کړل، په ټولنه کې يې هغوی بې قيمته کړل، او په داسې چا يې بدل کړل، چې ګواکې دومره بې ارزښته شوو، چې ان يادولو ته يې هم اړتيا نه ليدل کېده.

له نبيانو سره ولې دا سلوک وشو؟ د دې وجه يوازې يوه ده: د خپلو مخاطبو قومونو په تګلاره تنقيد. انسان ته تر ټولو محبوب شی چې دی، هغه د ځان تعريف دی. او تر ټولو ډېر چې کرکه ورنه لري، هغه د ځان په خلاف تنقيد دی. دا چې انبياء به د سمې او ناسمې لارې د ښودلو لپاره راتلل، نو هغوی به له خپلو قومونو سره د جوړجاړي لاره نه وړله. پيغمبرانو به د هغوی اعتقادي او عملي تېروتنې په نښه کولې. له دې امله به قوم د هغوی مخالف بلکې دښمن وګرځېده. که انبياوو د خلکو د خوښې ويناوې کولی، نو هېڅ کله به له دا ډول وضعيت سره نه وو مخ شوي.

په دې عمومي انجام کې يوازې څو تنه انبياء استثناء دي. مثلاً حضرت داؤد، حضرت سليمان، حضرت يوسف عليهم السلام. خو دغه حضرات چې کوم عروج او اقتدار ته ورسېدل، د هغه وجه په ولس کې د دوی د نظرياتو مقبوليت نه و، بلکې نور اسباب او عوامل يې درلودل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حضرت داؤد د اسرائيلي پاچا ساؤل په پوځ کې يو ځوان عسکر و. د هغه په زمانه کې د اسرائيليانو او فليسطيانو ترمنځ جګړه پېښه شوه. په فلسطي پوځ کې د جالوت په نوم دېبوزمه پهلوان و، چې له ډاره هېڅ څوک هم په مقابله نه شوی ورتللی. پاچا اعلان وکړ، چې هر څوک دا سړی ووژني، خپله لور به هغه ته واده کړي. حضرت داؤد مقابله ورسره وکړه او جالوت يې ووژاه. په دې ډول حضرت داؤد د اسرائيلي پاچا زوم شو. تر دې وروسته چې کله په يوه جګړه کې پاچا او وليعهد دواړه ووژل شوو، نو د واک ګدی حضرت داؤد عليه السلام ته پاتې شوه. حضرت سليمان د حضرت داؤد زوی و او حکومت له خپل پلار نه په ميراث کې ورته پاتې شو. حضرت يوسف ته د خوبونو د تعبير علم ورکول شوی و. له دې نه يې د مصر مشرک پاچا متاثره شو، او تر خپل واک لاندې يې حکومتي چارې ور وسپارلې. خو پاچا او عام مصري وګړي د پخوا په څېر په خپل مشرکانه دين پاتې شوو.

د دې حالت نقصان يوازې دا نه شو، چې په هر دور کې لوی نفوس د الهي هدايت له نعمت نه محروم پاتې شوو. تر دې لوی نقصان يې دا و، چې هر پيغمبر به چې د خدای له لوري کوم کتاب يا لارښوونې ورسره راوړې وې، د هغو د خونديتوب چاره هم ونه شوه. په دې چې له پيغمبر وروسته يوازې د هغه پيروانو دا لارښوونې خوندي ساتلای شوی، خو يا پيغمبرانو پيروان مونډلي نه دي او يا به دومره کم وو، چې د الهي کلام ساتنه به يې په وس کې نه وه.

هغه خدای چې علم يې له ازله تر ابده پورې خور شوی دی، چې راتلونکې اينده داسې ويني لکه تېر شوی ماضي، هغه خدای د انسانيت په دې انجام خبر و. د همدې لپاره يې تر مخ لا دا ټاکلې وو، چې د پيغمبرانه دور په وروستي پړاو کې به خپل يو خاص استازی استوي. دې پيغمبر ته به د دين د دعوت په څوا کې د دين د غلبې نسبت هم حاصل وي، هغه ته به دا ځانګړې نصرت ورکول کېږي، چې په هر حال کې په خپلو مخاطبينو غلبه حاصله کړي او هغوی د حق په وړاندې ټيټېدو ته مجبور کړي (لن يقبضه حتى يقيم به الملة العوجاء)، د خدای پوځ به د دې پيغمبر ملګری وي، چې د هغه مخالفان به مغلوب کړي، تر څو د خدای دين د تل لپاره په ټينګونو بنيادونو ودرېږي. او د الهي کتاب د خونديتوب او حفاظت تلپاتې چاره وشي. د بايبل په ټکو کې، «هغسې چې سمندر له اوبو ډک دی، همداسې ځمکه د خدای د جلال له عرفان نه سرشاره ده.»

**هر انسان په الهي فطرت پيدا شوی دی. د معبود طلب د انسان په پيدايشي ساخت کې داسې اغږلی دی، چې په هېڅ طريقه يې له انسان نه بېلولی نه شو. په دې فطري طلب باندې په اوسنی زمانه کې يوه بله زياتونه دا شوې ده، چې له مادي تمدن څخه ناهيلي په ټوله دنيا کې د يوه نوي تلاش جذبه راپارولې ده. دې حالاتو نن ورځ د حق دين د خپراوي لپاره داسې فرصتونه پرانيستي دي، چې پخوا هېڅ کله نه دي ليدل شوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی خپله دا طرحه، د بایبل د شهادت له مخې، زرګونه کاله دمخه د بېلابېلو انبیاوو لـه لارې څرګنـدول پیـل کړې وو، همدا ده چې ویل شوي و، چې دغه پیغمبر به د عربو له صحرايي جغرافیې نه راپورته کېږي. دا پیغمبر بـه د اسرائیل له پاتې کورنۍ یانې د هغوی د ورونو (بني اسماعیل) لـه اولادې څخـه وي. هغه بـه لـه حضرت مسیح وروسته راځي. د هغه ملګري به د خدای په لاس پېرل شوي بلل کېږي. کـوم قومونـه چـې دوی سره سر جنګـوي، هغه به دانه وانه وپاشل شي. ازلي غرونه (ایران او روم) به په ګونډو شي. د هغه سلطنت بـه لـه وچـې نـه تـر بحري هېوادونو پورې غځېدلی وي، او داسې نور.

اوسنی بایبل سره له دې چې د ترجمو او زیاتونو په پایله کې له اصلي بایبل نه ډېر زیات فرق پیدا کـړی دی. خـو نن ورځ هم په لوی شمېر داسې وضاحتونه لري، چې د یوه بې پلوه انسان لپاره له راتلونکي وروستي پیغمبر پرتـه د بل هیچا له شخصیت سره سمون نه خوري. په تېره، د حضرت مسیح علیه السلام د راتلو ځانګړی ماموریـت همـدا و، چې هغه به دنیا په تېره یهود له راتلونکي نبي نه تر وروستي حده خبروي. حضرت مسیح چـې د کـومې نـوې «عهدنامې» زېری ورکړی، هغه په اصل کې اسلام و، چې د یهودو له معزولې وروسته د بني اسماعیل له لارې وترل شو. د انجیل نوې عهدنامه زېری دی، نه پخپله نوې عهدنامه.

حضرت مسیح علیه السلام، له وروستي پیغمبر صلی الله علیه وسلم نه شپږ سوه کاله دمخه تشریف راووړ. د قـرآن کریم په ٦١مه سوره کې راغلي دي، چې حضرت مسیح د فلسطین یهودو ته وویل، چې زه الله د یوه داسې رسـول زېری ورکونکی رااستولی یم چې له ما وروسته راځي (او) نوم به یې احمد وي. (الصف: ٦)

احمد او محمد دواړه هم‌معنا کلمې دي، چې معنا یې «ستایلی» دی. په برناباس انجیـل کـې پـه صـافو ټکـو کـې «محمد» کلمه راغلې ده. خو دا چې مسیحي حضرات برناباس انجیل ته جعلي انجیل وایي، د همـدې لپـاره مـوږ د دې انجیل حواله مناسبه نه وینو. بله دا ده، چې زموږ په نزد په دې کې شک دی، چې حضرت مسیح بـه پـه خپله وراندوینه کې احمد یا محمد کلمه ویلې وي. قیاس ته ډېره نیږدې خبره دا ده، چې حضرت مسـیح بـه د احمـد یـا محمد هم‌معنا کوم لفظ کارولی وي.

د محمد بن اسحاق (مړ ١٥٢هـ) یو روایت چې ابن هشام نقل کړی دی، د هغه مطابق دا لـفظ غالبـا «مُنحَمَنَّا» و. ابن اسحاق د سیرت په موضوع کې تر ټولو مهم ماخذ ګڼل کېږي. د ده روایت دی، چې ماته ویونکو وویل، چـې په یحنس (یوحنا) انجیل کې د راتلونکي رسول یوه وړاندوینه راغلې ده، په هغې کې دا نـوم منحمنـا ښـودل شـوی دی. (**تهذیب سیرة ابن هشام، جلد اول، صفحه ٥٠**) غالباً دا روایت هغوی ته په خپله زمانه کې د فلسطیني عیسـویانو په پېژندګلوي رسېدلی دی، چې په دې وخت کې دا سیمه د اسلام په قلمرو کې شامله شوې وه. منحمنّا د سریـاني ژبې کلمه ده، چې معنی یې «ستایلی» دی. د ماضي له اغېزه تر دې وخته پورې د فلسطین د وګړو ژبـه سریـاني وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اغلب گومان دا دی، چې د حضرت مسیح له لوري په خپله مورنۍ ژبه کې ویـل شـوی اصـل لفـظ (منحمنّا) بـه د انجیل په روایاتو کې راغلی وي، چې وروسته په ترجمو کې غورځېدلی دی.

د بایبل په ګڼو وړاندوینو کې د تېرو پیغمبرانو له خولې په صراحت سره دا ویل شوي دي، چې پـه وروسـته زمانـه کې څه پېښېدونکي دي. اوس به دغه وړاندوینې په خپلو ټکو کې په لنډ ډول ولولو:

د حضرت ابراهیم علیه السلام دوه زامن وو. اسحاق ع او اسماعیل ع. ابراهیم ع اسحاق په کنعـان (فلسـطین) کـې اباد کړ او اسماعیل او د هغه له مور (هاجرې) سره له خپل وطن عراق نه ووت او د خدای د حکـم لـه مخـې مـوره (مروه) سیمې ته راغی. دلته یې د عبادت او قرباني ځای (کعبه) ودانه کړه. خپل زوی اسماعیل یې دلته مېشت کړ. خدای وویل، ستا د دې اولاد په نسل کې به زما برکت (نبوت) څرګندېږي. هغه سره به زه ابدي معاهده کوم (دائمي شریعت به ورکوم)، د هغه له برکته به ټولو قومونو ته فیض رسېږي (نړیوال نبوت به وي).

د بني اسرائیل په ورونو (بني اسماعیل) کې چې کله د نوي عهد پیغمبر راشي، نو له اسرائیلي نسل (یهودو) نـه بـه سلطنت واخیستل شي. بني اسرائیل ته چې کله الهي احکام ورکول کېدل، نو دا احکام به نېغ په نېغه ورکول کېـدل، چې له امله به یې هغوی له ډېرو بوږنوونکو کیفیتونو څخه تېرېدو تـه اړ کېـدل. د بنـي اسرائیـل پـه بـل نسـل (بنـي اسماعیل) کې چې کوم پیغمبر راځي، خدای به د هغه په ژبه باندې خپل اوامر نازلوي، او پیغمبر بـه هغـه اوامـر پـه خپله خوله نورو خلکو ته رسوي. له سینا (مصر) نه د موسی نبوت ښکاره شو. له شعیر (فلسطین) نه د عیسی نبـوت څرګند شو، اوس به وروستی نبي له فاران (عربو) نه راوځي. هغه ستایلی (محمد) دی. خلك بـه ټولـه ورځ د هغـه لپاره دعا (درود او سلام) کوي.

اسماعیلي پیغمبر چې په صحرایي علاقه کې به راځي، هغه به یوازې پیغام نه رسوي، بلکې په خپل ژوند کې به لا خپل دښمنان مغلوب کړي. هغه به مظلومان (غلامان) راهسك کړي او ظالمان به لاندې کـړي. د هغه اقتـدار بـه تـر قیامته پورې پای نه مومي. د توحید نمانځونکي به د هغه په زمانه کې غلبه ومومي، د بیابانونو اوسېدونکي (قـریش) به د هغه مخې ته سرونه وغورځوي. د هغه دښمن (یهود) به ذلیل شي. د یمن او شاوخوا عربي سـیمو واکمـن بـه د هغه اطاعت کوي. ازلي غرونه (روم او ایران) به د هغه د سېلاب په مخکې خاشه خاشه شي. دا پیغمبر به تر ابده لـه خلکو سره پاتې وي (د هغه د نبوت فیض به جاري وي)، هغه به ټولې خبرې (بشپړ شریعت) بیان کړي.

د هغه حکومت به نه یوازې د وچې تر وروستي سره پورې وي، بلکې له سمندر نه اخوا سیمو پورې بـه غځېـدلی وي. هغه به د خدای عدالت په ځمکه قایم کړي. د هغه نبوت به د نبیانو په لړۍ باندې مُهر وي. تر ټولـو سـپېڅلی مقام (کعبه) به د توحید مرکز وګرځول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې پيغمبر پيروان به د خداى په لاس پيرل شوي بلل کېږي. (إِنَّ اللّهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُم) هغوى به صفونه تړلي جنګيږي (يقاتلون في سبيله صفا) هغوى به د پهلوانانو غونډې منډې وهي او په دېوالونو (د خيبر په کلاوو) به خېژي. دا پيغمبر به (د مکې د فتحې په ورځ) له لس زرو ملګرو سره ناڅاپه په خپل هيکل (خانه کعبه) کې راښکاره شي. د دې پيغمبر امتيان که د خداى احکام پرېږدي، بيا به هم د تېرو امتونو په څېر معزول نه شي. يوازې د تنبيه لپاره به سزا ورکول کېږي.

---

# د اسلام ميرمن

**(از فريده خانم)**

اسماء بنت ابو بکر له هجرت نه ۲۷ کاله دمخه نړۍ ته راغله. په مکه کې چې کله دې اسلام قبول کړ، نو د مسلمانانو شمېر اوولس تنه و. حضرت ابوبکر صديق چې کله له نبي کريم صلى الله عليه وسلم سره د مدينې په خوا هجرت کاوه، نو شاوخوا شپږ زره درهم ورسره وو او ټول يې له ځان سره يووړل.

د حضرت ابوبکر پلار ابو قحافه چې نابينا شوى و، د خپلو لمسيو تسلي ته راغی او ورته ويې ويل: خيال مې راځي، چې ابوبکر د خپل تګ وير هم تاسي ته پرېښود او مال يې هم شايد ټول ورسره وړی دی. اسماء وايي، چې ما خپل نيکه ته وويل، هغه خو زموږ لپاره ډېر څه پرې ايښي دي، بيا مې واړه، واړه کاڼي ټول کړل، او په هغه لوښي کې مې واچول چې زما د پلار درهم به پکې پراته وو، او په لوښي مې يو ټوټه هواره کړه او لوښی مې نيکه ته په لاس کې ورکړ. هغه فکر وکړ، چې دا لوښی له درهمو ډک دی او ويې ويل، خير دا ابو بکر ښه کار کړی دی. په دې به ستاسي د ګوزارې يوه چاره وشي.

اسماء وايي، په خداى قسم، پلار مې هېڅ هم نه و راته پرې ايښي. ما يوازې د نيکه د تسلي لپاره دا کار وکړ.

د حضرت اسماء واده له حضرت زبير سره شوى و. بيا چې کله دواړو مدينې ته هجرت وکړ، نو په هغه وخت کې چې په دې کوم حال راغی، په بخاري شريف کې يې له خپلې خولې نه په دې ډول رانقل شوی دی: کله مې چې له زبير سره نکاح وشوه، نو له هغه سره نه مال و، نه ځمکه. نه د کار کوم نوکر و او نه کوم بل څه. يو اوښ د اوبو راوړلو لپاره و، او يو اس و. پخپله ما به د اوښ لپاره واښه او نور څه راوړل او د کجورو زړي به مې ورته ټکول او په خوراک کې به مې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورکول. پخپله ما به اوبه راډکولې او د اوبو کوزه به چې وشکېده، نو پخپله به مې ګنډله. همدا ماته د اس ټول خدمت را لـه غـاړې و او دې سره به مې د کور ټول کارونه هم پخپله کول.

په دې ټولو کارونو کې د اس ساتنه او پالنه زما لپاره ډېر زیات دروند کار و. ډوډۍ پخول مې البته سم نه و زده. نو کله به مې چې ډوډۍ پخوله، نو اوړه به مې لمده کړل او د خپل ګاونډ انصارو ښځو ته به مې ور وړل. هغوی ډېرې مخلصې ښځې وې. زما مړی به یې هم راپخه کړه. نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې مدینې ته ورسېده، نو زبیر ته یې یوه ټوټه ځمکه ورکړه، چې له مدینې نه په دوه میله واټن کې وه. زه به هلته د کار لپاره تلم او له هغه ځایه به مې په خپل سر د کجورو زړي راباړول.

یو ځل همداسې راروانه وم او پنډه مې په سر باندې ایښې وه. په لاره کې نبي کریم صلی الله علیه وسلم مخې ته راغی. هغه مبارك په اوښ باندې سپور و او د انصارو یوه ډله ورسره وه. نبي کریم صلی الله علیه وسلم زما په لیدو اوښ ودراوه. او ماته یې د کېناستو اشاره وکړه، چې زه په اوښ باندې کېنم. ماته له سړو سره په یو ځای تلو کې شرم ودرېده او دا خیال هم راغی، چې زبیر ډېر زیات غیرتي دی او دا خبره به ښه ورباندې ونه لګېږي. نبي کریم صلی الله علیه وسلم زما له انداز نه پوه شو، چې زه په اوښ باندې په سپرېدو شرمېږم، نو دی مبارك پخپله مخه روان شو.

زه کور ته راغلم او زبیر ته مې ټوله قصه وکړه. ورته ومې ویل، چې له سړو سره په اوښ سپرېدو کې ماته شرم راغی او ستا غیرت مې ذهن ته ودرېده. زبیر وویل، په خدای قسم، په خپل سر باندې د کجورو زړي راوړل زما لپاره تر دې هم ډېر دروند او سخت دی.

د مدینې په ژوند کې د ښځو دا ډول بې شمېره پېښې راغلې دي. هغه وخت به ښځو نه یوازې د کور بلکې د بیرون زیاتره کارونه هم کول. د دې وجه دا وه، چې سړي به زیاتره وختونه په جهاد، د دین تبلیغ او نورو کارونو کې مصرف وو. هغوی ته به دومره فرصت نه پیدا کېده، چې د کور مسؤلیتونو ته اوږې ورکړي. نو د هغوی ښځو به د کور کاروبار سمبال کړی و. تر دې چې د حیواناتو ساتنه او کرهنه او باغواني به یې هم کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# يوه فتنه




او تانه مخکې مو هم يو رسول او نبي له دې حالته پرته نه دی لیږلی چې کله به هغه لوستل کول نو شیطان به يې په لوستلو کې څه (خلل) اچاوه. نو الله هغه څه له منځه وړي، چې شیطان يې پکې اچوي بیا الله خپل ایتونه محکموي، او الله ډېر پوه حکمت والا دی. د دې دپاره (داسې کوي) چې کوم شی شیطان پکې غورځوي، هغه د هغو خلکو دپاره فتنه وګرځوي، چې په زړونو کې يې ناروغي ده او د هغو دپاره چې زړونه يې سخت دي او یقیناً دا ظالمان په ډېر لرې مخالفت کې دي. او تر څو هغه خلك چې علم ورکړی شوی، ویوهیږي چې دا حق دی ستا د رب له خوا، نو په هغه به ایمان راوړي او زړونه به يې ورته نرم شي. او بې شکه الله ایمان راوړونکو ته د سمې لارې ښوونکی دی.

په اصل متن کې د تمنی او امنیه کلمې دي. د تمنی کلمه دلته د قرأت او امنیه د متلو په معنا کارېدلي ده. د حضرت عثمان رض له شهادت وروسته يوه شاعر ويلي و:

تمنى كتاب الله اول ليلة
و اخرها لاقى حمام المقادر

ژباړه: د شپې په پیل کې يې د الله کتاب تلاوت کړ او د شپې په وروستی برخه کې د خپلې مرینې له تقدیر سره مخ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې آیت کې ویل شوي دي، چې په څه ډول چې الله تعالی د خلکو لپاره د هدایت چاره کړې ده چې خپل استازي وراستوي او هغوی خلکو ته د الله احکام اوروي، همداسې الله تعالی شیطان ته هم ازاد لاس ورکړی دی. په هره زمانه کې داسې شوي، چې کله پیغمبر د خدای د خبرې اعلان کړی، نو شیطان د خلکو په زړونو کې راز، راز خبرې اچولې او هغوی یې په شکونو کې غورځولي دي. مثلاً نبي کریم صلی الله علیه وسلم د قرآن کریم دا آیت ورته ولوسته، «**إِنَّكُمْ وَمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ حَصَبُ جَهَنَّمَ**» یقیناً تاسو او هغه چې تاسو یې له الله نه پرته لمانځئ، د جهنم خشاك یاستئ.

نو شیطان دا شبه ور واچوله چې «په **مَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ** (له الله پرته معبودانو) کې خو مسیح او عزیر او پرښتې هم شاملې دي، نو آیا دوی ټول هم به د جهنم خشاک وي؟»

کله چې یوه ربښتینې خبره مخې ته راشي، نو یوه طریقه دا ده، چې انسان په سنجیده اندازه کې غور وربandې وکړي او په سیده طریقه یې ومني. دا د حق د ربښتینو غوښتونکو طریقه ده. خو هغه چې په زړونو کې یې ربښتینې طلب نه وي، د هغوی ذهن په شعوري یا لاشعوري توګه، په دې هڅه کې وي، چې د داعي په خبره کې یوه داسې تېروتنه راوباسي، چې د خپل دریځ جواز وربandې ثابت کړي. په دې سره د دوی ذهن په مخالف لوري کار پیل کړي، او په اصلي خبره کې راز، راز کږلېچونه راپیدا کوي، تر څو د خلکو په نظر کې د داعي صداقت مشتبه کړي. بله دا چې پخپله هم دا دروغجن تسکین حاصل کړي، چې موږ چې د کوم دعوت مخالفت کوو، هغه پخپله د دې وړ دی، چې مخالفت یې وشي.

دوی غواړي چې د داعي سوچه صداقت په دې خبره رد کړي، چې دا خبرې د اسلافو رشخندول او احمق ثابتول دي. (**انت تسفه آباءنا**؛ ته زموږ پلرونه احمق ګڼې؟). یا په دې خبرې سره د داعي د پیغام اغېز کموي، چې دا خو ادبي سحر دی (**بل هو شاعر**). یا د داعي یقین او حوصله په دې خبره بې قیمته کوي، چې دا ټول زور یې د دې لپاره دی، چې د پلاني شخص مرسته ورسره ده (**اعانه علیه قوم آخرون**؛ نورو خلکو یې په هغه کې مرسته کړې). یا کله په دې خبره د داعي معامله مشتبه کوي، چې دا خو د یوه عام انسان خبره ده (**ان هی الا قول البشر**؛ مازې د انسان خبره ده). یا وایي، چې دا خو تشه د بې ارزښته خلکو قصه ده (**اراذلنا بادی الرای**؛ زموږ له ټیټو (بې پته) بې فکره (ساده) خلکو پرته) او داسې نور.

د دې ډول خبرو مقصد دا وي، چې د داعي حیثیت مشتبه او خپل دریځ وربandې مضبوط کړي. خو د حق داعي سره د الله تعالی مرسته مل وي او پایله یې بالکل بالعکس راوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# چې بدي د نېکۍ په خانه کې ثبت شي



الله تعالی د خپلو وفادارو بندګانو لپاره چې د کومو انعاماتو وعده کړې ده، له هغو نه یوه ځانګړې وعده هغه ده، چې په قرآن کریم کې په دې ټکو کې بیان شوې ده:

«فَأُوْلَئِكَ يُبَدِّلُ اللَّهُ سَيِّئَاتِهِمْ حَسَنَاتٍ» (فرقان: ۷۰) نو دا خلک چې دي الله به یې بدی په نېکیو بدلې کړي.

دا خدایي انعام اصلاً په هغې فردي موندنې پورې تعلق لري، چې د خدای له لوري یوه مؤمن بنده ته ورکول کېږي. خو د دې یو اجتماعي اړخ هم شته. موږ به دلته په دواړو اړخونو مختصرې خبرې وکړو.

انسان څه داسې خلق کړای شوی دی، چې له کړنو او تېروتنو پاک نه شي پاتې کېدی. تر دې چې له ځینو حدیثونو معلومېږي، چې پخپله دا هم مطلوب دی، چې انسان غلطي وکړي. د یوه روایت له مخې، نبي کریم صلی الله علیه وسلم خبرداری راکړی، چې که انسان ګناه ونه کړي، نو الله به بل مخلوق پیدا کړي، چې ګناه وکړي او بیرته له الله نه معافي وغواړي. د دې حکمت دا دی، چې له انسان نه خدای ته مطلوب شی چې دی، هغه عاجزي ده. دا احساس

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې «ما غلطي وکړه» په انسان کې د عاجزي جذبه راپورته کوي، په نسبت د دې احساس چې «زما ژوند له گناهونو سپېڅلی دی.» د مؤمنانه زړه لړونکی انسان چې کله تېروتنه کوي، نو سمدستي يو ټکان وخوري. په دې فکر کې بې تابه شي، چې د شيطاني دامونو او نفساني انگېزو پر وړاندې څومره کمزوری ثابت شوم. دی د بې وسي او خجالتي له جذبې سره بېرته د خدای په لور منډه اخلي. په دې سره بنده خپل عاجزانه حيثيت مومي، چې که خدای زما لاسنيوی ونه کړي، نو زه خپل ځان نه شم سمبالولی. په ما کې خپل ذاتي کوم ځواک نشته. که انسان تېروتنه ونه کړي، نو انديښنه ده، چې په ده کې د غرور او لويي نفسيات پيدا شي او په پايله کې يې هماغه شی (عاجزي) ورنه واخيستل شي، چې د بندگي له پلوه د ده اصلي گاڼه دي:

**والذي نفسي بيده لو لم تذنبوا لخشيت عليكم ما هوا اشد منه و هو العجب** (رزين)

نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل، قسم مې دې په هغه ذات وي، چې زما ځان يې په واک کې دی، که تاسې گناه ونه کړئ، نو ستاسې په اړه تر دې هم د لوی شي انديښنه راسره ده، او هغه عُجب (لويي) دی.

د الله په نزد د «نېکيو» شمېر او د لاسته راوړنو انبارونه کوم قيمت نه لري. هغه ته مات زړونه پکار دي (**انا عند المنكسرة قلوبهم**) هغه داسې بندگان خوښوي، چې کلمه يې دا وي، چې زما ربه! ما خو هېڅ هم ونه شو کولی، زما ژوند خو په غفلتونو کې تېر شو. خو دا مازې په مصنوعي ډول نه وي، بلکې همدا د بنده واقعي احساس وگرځي. تر دې چې د ده د عاجزي احساس دومره لوړ شي، چې دا کلمه يې په ژبه رانه شي، بلکې له سترگو يې د اوښکو له لارې وبهېږي. که د انسان تېروتنه په ده کې د عبديت دغه احساس رابيدار کړي، نو دا تېروتنه د خدای په نظر کې دومره محبوبه گرځي، چې خپلو پرښتو ته امر ورکوي، چې زما د بنده دغه تېروتنه د هغه په اعمال نامه کې د نېکيو په ځای کې وليکئ. په دې چې دې تېروتنې زما بنده ماته رانيږدې کړ. د دې بالعکس هغه نېکي چې په انسان کې د غرور احساس پيدا کړي، د هغې په اړه انديښنه ده، چې داسې نه وي، د بديو په خانه کې وليکل شي. په دې چې دغه نېکي له خدای نه د خپل بنده د لرېوالي سبب گرځېدلې ده.

تېروتنې له هر انسان نه کېږي، له مؤمن نه هم او له نامؤمن نه هم. خو چا چې په حقيقي معنا کې د عبديت مقام موندلی وي، له هغه نه چې کله غلطي کېږي، سمدستي متوجه کېږي او د گناه احساس يې دې ته مجبوروي، چې په دوه چند شدت سره د خپل رب په خوا ور منډه کړي. د ده غلطي د دې سبب گرځي، چې دی له نويو غوره ايماني کيفيتونو نه سرشاره کړي. د خدای د وېرې او محبت نوی توپان په کې رامست شي. د خدای په خوا رجوع، چې د ټولو عبادتونو روح دی، له پخوا نه هم په ډېره کچه په کې پيدا شي. حقيقت دا دی، چې هغه گناه چې له ځان سره د

(c) ketabton.com: The Digital Library


خشيت او تضرع اوښکې راوړي، هغه نه يوازې د ګناه سياهي وينځي، بلکې پخپله ګناه هم د نېکي په خانه کې اچوي. ځکه هغه څه چې د دې ګناه په پايله کې پيدا شوي دي، هغه هماغه څه و، چې د ټولو نېکيو اصلي مقصود دی.

د دې بالعکس معامله د هغو خلکو ده، چې د عبديت احساس يې نه وي رابيدار شوی. چې حال يې دا وي، چې له ګناه کولو وروسته هم د شرمندګي او ګناهګاري جذبه په کې راپورته نه شي. داسې خلک د تېروتنو په تيارو کې لالهانده ګرځي او خپلې تېروتنې او ګناهونه هغوی ته د عجز او خاکساري خواړه نه ورکوي، بلکې زړونه يې لا ډېر سخت شي. او له هرې ګناه وروسته د بلې ګناه لپاره لا ډېر زړور او جري شي. تر دې چې داسې ښکاري، چې ګواکې هغوی خپلې واګې د شيطان په لاس کې ورکړې دي، او هرې خواته يې چې هغه غواړي، په هماغه خوا يې راکاږي: «إِنَّ الَّذِينَ اتَّقَواْ إِذَا مَسَّهُمْ طَائِفٌ مِّنَ الشَّيْطَانِ تَذَكَّرُواْ فَإِذَا هُم مُّبْصِرُونَ. وَإِخْوَانُهُمْ يَمُدُّونَهُمْ فِي الْغَيِّ ثُمَّ لاَ يُقْصِرُونَ.»

بې شکه څوک چې الله نه وېريږي کله چې د شيطان له خوا کومه وسوسه وروررسي، نو (سمدلاسه) متوجه کېږي، نو بيا دوی ليدونکي شي. او د هغوی (کافرانو) ورونه (شيطانان) دوی په کږه لار کې راکاږي او بيا هيڅ لنډون (سستي) نه کوي.

د مؤمن بدی په نېکيو د بدلولو بل اړ هغه دی، چې په اجتماعي معاملاتو پورې تعلق لري. دا له اهلِ ايمان سره د الله تعالی هغه خاصه معامله ده، چې د مخالف حالات (Disadvantage) يې په موافقو حالاتو (Advantage) بدل کړي. دا چې دا مرسته په يوه اعتبار دنيوي اړخ هم لري، د همدې لپاره د پاسنۍ مرستې بالعکس دغه ډول مرسته بعضې وختونه د بې ايمانه خلکو په نصيب هم رسېږي. خو په دواړو ډلو کې يو فرق دی. تر کومه چې د خدای د مؤمنو بندګانو خبره ده، د هغو لپاره د دغه راز مرستې يقيني ضمانت دی. په تېره هغه وخت چې کله يې دا مرسته د اسلام د مخالفينو په مقابله کې پکار وي. حال دا چې د بې ايمانه وګړو لپاره دغسې هېڅ ضمانت نشته.

**د اسلام تاريخ د دغه راز مرستې له واقعاتو نه پورمامور دی:**

۱- د اسلام په ابتدايي زمانه کې، په مکه کې د مسلمانانو حالات دومره کړکېچن شول، چې له دې پرته بله هېڅ لاره ورپاتې نه شوه، چې خپل وطن پرېږدي او مهاجرت وکړي. هغوی د هجرت لپاره حبشه انتخاب کړه، چې د عربي ټاپووزمې په پوله باندې وه او هغه زمانه کې په حبشه باندې يوه عيسوي پاچا (نجاشي) واکمني کوله، چې د نېک سيرت اوازې يې هرې خواته مشهورې وې. په ۶۱۵ ز کې پنځلس تنه مسلمانان جدې ته لاړل او په کښتيو کې يې سفر وکړ او د حبشې په ساحل باندې کوز شول. دوهم ځلې په ۶۱۷ ز کې د سلو مسلمانانو يوه قافله حبشې ته ولاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


خپل کور کلی، شتمني او خپل و بل پرېښودل او پردي هېواد ته مهاجرت کول په ظاهره ډېره ناخوښه واقعه وه. خو په همدې واقعه کې الله تعالی د خير يو صورت راپيدا کړ. د مسلمانانو حبشې ته رسېدل د دې سبب شو، چې له سمندر نه هغه غاړې يوه هېواد کې اسلام د بحث موضوع وګرځي، چې په دې سره د پيغمبر عليه السلام د بعثت او دعوت خبرونه د حبشې تر دياره ورسېدل. د قريشو يو مخالفانه وفد چې حبشې ته ورغی، نو په دې سره د مسلمانانو سردار جعفر بن ابي طالب ته فرصت په لاس ورغی، چې په پادشاهي دربار کې د اسلام په دعوت مفصله وينا وکړي. د دې پېښې پايله دا شوه، چې له حبشې نه د شلو عيسوي علماوو يو وفد د احوالو د تحقيق لپاره مکې ته راغی. هغوی اسلام قبول کړ او بېرته خپل وطن ته ستانه شول. (قصص: ۵۵- ۵۲) په دې سره هغه غورځنګ چې حبشې ته له هجرت نه مخکې يې د مکې د يوه کليوالي غورځنګ رنګ و بوی درلوده، حبشې ته له هجرت وروسته نړيوال حيثيت ترلاسه کړ.

**۲-** اسلام چې کله په عربي ټاپووزمه کې څرګند شو، په دې وخت کې د عربستان د شمال او جنوب ټولې سيمې د هغې زمانې د دوو امپراتوريو، ساساني سلطنت او بازنطيني سلطنت تر واک لاندې وې. دې دواړو سلطنتونو دا نه شوی زغملی، چې د عربستان په زړه کې دې کوم خپلواک حکومت ټينګ شي. او پرمختګ دې وکړي. د هغوی دې جذبې او ارمان به په مختلفو شکلونو خپل ځان ښوده. د همدې يو مثال د ۸ هجري کال هغه واقعه ده، چې د بُصری ګورنر شرحبيل بن عمرو غساني د اسلام د پيغمبر صلی الله عليه وسلم سفير د شام په سرحدي کلي مؤته کې ووژاه. دا حارث بن عمير ازدي و، چې د نبي کريم صلی الله عليه وسلم له لوري د اسلامي دعوت له مکتوب سره د بُصری حاکم ته ورغلی و.

د نړيوال قانون له مخې دا واقعه په يوه هېواد باندې د بل هېواد د يرغل په معنا وه. ورسره دا اوازې هم راتللې، چې د شام له لوري رومي پوځونه راخوځېدلي دي او غواړي مدينې ته ننوځي. د اسلام پيغمبر ص دې پېښې ته پوځي ځواب ورکول اړين وليدل او يو درې زريز لښکر يې تيار کړ او د زيد بن حارثه په مشرۍ يې د شام په لوري ولېږه. د مؤته په ځای کې مقابله وشوه. خو د مسلمانانو د درې زره عسکرو پر وړاندې د روميانو تر سل زره هم ډېر پوځ راټول شوی و. د حضرت زيد رضي الله عنه په ګډون تقريباً دوه زره مسلمانان شهيدان شول او پاتې پوځ په دې حال کې بېرته ستون شو، چې د مدينې وګړو يې د **يا فُرّار** (اې فراريانو) په ويلو سره هرکلی وکړ.

د اسلام د پيغمبر ص په ۲۳ کلن نبوي ژوند کې دا د تر ټولو ستر نقصان واقعه وه. خو الله تعالی په ډېره هيښوونکې توګه په دې پېښه کې يو ډېر ستر د خير اړخ پيدا کړ. د عربو مسلمانانو چې په کومو قبايلو پورې تعلق درلوده، هغوی له پېړيو راهيسې په خپلو منځونو کې په جنګونو اخته وو. جنګ او جګړه د هغوی ثانوي فطرت ګرځېدلی و. شديده اندېښنه وه، چې د خپلو زورواکيو د ښودلو لپاره که بل ډګر ونه ويني، نو بېرته په خپلو کې په جنګونو واوړي. د غزوه مؤته پېښې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


دې مسئلې ډېر بهترين حل په ګوته کړ. نبي کريم صلی الله عليه وسلم د روميانو يرغل ته د ځواب ورکولو لپاره يو ستر پوځ ترتيب کړ او د دې لښکر سردار يې اسامه بن زيد رض مقرر کړ، چې په زړه کې يې له روميانو نه د انتقام شديده جذبه په ولولو وه، ځکه چې هغوی د ده پلار زيد بن حارث رض قتل کړی و.

په دې سره د اسلام پيغمبر ص دا فرصت ومونده، چې په خپلو وروستيو ورځو کې عربان له رومي سلطنت سره ښکر په ښکر کړي او د عربانو د جنګيالي فطرت لپاره د عمل يو ډګر په نښه کړي. همدا وه، چې تاريخ وليدل، چې هغه خلک چې د خپلو وطنوالو له وژلو او لوټلو پرته يې نور هم هېڅ زده نه وو، له يوې پېړۍ نه هم په کمه عرصه کې په يوه لويه دنيا کې د اسلامي اقتدار بيرغونه ورپول.

**۳-** همدغسې يو مثال په ديارلسمه عيسوي پېړۍ کې په اسلامي نړۍ باندې د مغلو او تاتاريانو د يرغل هم دی. دې وحشي قبايلو د مشرق له لوري په اسلامي نړۍ يرغل راووړ او يوه لويه دنيا يې تاخت و تاراج کړله. د هغوی په مقابله کې مسلمانانو بشپړه ماتې وخوړه. دا تر ټولو ستر سياسي آفت و، چې د مسلمانانو په ټول تاريخ کې په دوی نازل شوی و. خو په دې آفت کې په ډېر حيرانوونکي ډول يوه نوي امکان غوټۍ وکړې. فتحې د تاتاريانو انتقامي جذبه سړه کړه. اوس هغوی له اروايي پلوه په دې پوزيشن کې وو، چې د مفتوحينو د مذهب او عقايدو په اړه بې پرې قضاوت وکولی شي. له مسلمانانو سره اختلاط هغوی له يوه صحيح اسماني مذهب سره اشنا کړل. دوی تر اوسه پورې د مذهب په نوم له هسې جاهلانه وهمپرستي پرته په نور هېڅ هم نه پوهېدل. هغوی وليدل، چې اسلام يو ربښتونی دين دی او په دې دين کې پخپله د دوی خير او ښېګڼه نغښتې ده. همدا وه، چې د مسلمانانو په شکست باندې يوه پېړۍ هم نه وه تېره شوې، چې ټول تاتاريان مسلمانان شول.

د دې فتحې يوازې همدا فايده نه وه، چې هغه ټول جوماتونه چې هلاکو له سمرقند نه تر حلب پورې په خپله لاره کې تباه کړي وو، د هغه لمسيو بېرته ودان کړل او د هغوی تر چتونو لاندې يې د يکي يوازيني خدای په وړاندې سجده وکړه، بلکې تر دې لويه فايده يې دا وه، چې عرب او ايراني قومونه چې تر اوسه پورې يې د اسلام علمبرداري کوله، واک او عيش کمزوري کړي وو. اوس يوې تازه‌نَفَسې ډلې ته اړتيا وه، چې د اسلام ساتندويه شي. مغل او تاتاريان، چې په اصل کې وحشي قبايل و، له دې صلاحيتونو نه پورمامور وو. هغوی اسلام قبول کړ او د اسلام بيرغ يې په خپلو لاسونو کې واخيست او بيا تر شپږ سوه کلونو پورې د اسلام ځواکمن ساتونکي پاتې شول.

د اسلام په تاريخ کې دغسې بې شمېره واقعات دي، چې زموږ رب زموږ مخالف حالات زموږ لپاره په موافقو حالاتو بدل کړي دي. دا تاريخ نن ورځ هم تکرارېدی شي، په دې شرط چې موږ له خپل لوري د دې نعمت د مستحق کېدو هغه شرط پوره کولو ته تيار شو، چې پوره کول يې د خدای د سنت له مخې لازمي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د عزت او ذلت معیار

نبي کریم صلی اللّه علیه وسلم په خپل ځای کې ناست و، یو سړی یې مخې ته تېر شو. ډېرې غوره جامې یې په تن وې او پیاوړي بدن یې درلود، چې د کلي مخور سړی دی. نبي کریم ص ناستو ملګرو ته وویل: د دې سړي په اړه ستاسې څه نظر دی؟ یو چا ځواب ورکړ، یا رسول اللّه، دا د دې ځای له درنو خلکو څخه دی. په خدای قسم هغه د دې وړ دی، چې که کوم کور ته د نکاح پیغام واستوي، نو وبه منل شي. که د چا سپارښتنه وکړي، نو د سپارښتنې به یې هرکلی وشي. نبي کریم صلی اللّه علیه وسلم غلی شو. لږ وروسته یو بل سړی هم تېر شو. نبي کریم ص بیا له ناستو کسانو وپوښتل، د دې سړي په اړه ستاسې څه نظر دی؟ یو چا وویل، یا رسول اللّه، دا یو غریب مسلمان دی. که چاته د نکاح پیغام واستوي، نو وبه نه منل شي، که چېرې سپارښتنه وکړي، نو سپارښتنه به یې وا نه ورېدل شي.

نبي کریم صلی اللّه علیه وسلم وفرمایل: «که له اولني قسم خلکو نه ټوله ځمکه ډکه شي، نو د خدای په نزد به دا یو غریب مسلمان تر هغوی ټولو نه بهتر وي.»

## سبق آموز:

**د ملي رهبري لپاره یوازې هغه خلک باید راپورته شي، چې په حال کې مستقبل لیدلی شي. هغه وګړي چې دا صلاحیت نه لري، د هغو د ملي رهبر په حیث راپورته کېدل ملي جرم دی، نه ملي خدمت!**

## د اقامت دین تشریح!

د قرآن کریم په ۴۲مه سوره کې حکم شوی دی، چې (همدغه) دین قایم کړئ. (شوری: ۱۲) حضرت عبداللّه بن عباس رض د دین له اقامت نه د یو موټي کېدو معنا اخیستې ده: «(ان اقیموا الدین) امراللّه لجملة الانبیاء ان اقیموا الدین ان اتفقوا في الدین او لا تتفرقوا فیه) لا تختلفوا في الدین»

(تفسیر عبداللّه بن عباس، مطبوعه ۱۲۸۰هـ)

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: اللّٰه ټولو پيغمبرانو ته امر وکړ، چې دين قائم کړئ، ياني په دين کې په اتفاق اوسئ او اختلاف او تفرقه مه په کې اچوئ.

د دې تشريح له مخې د دين اقامت، چې په آيت کې يې امر شوی دی، په اصل کې دا دی، چې مسلمانان له هغه حالت څخه ځان وساتي، چې عموما په کتاب لرونکي امت باندې د زوال په زمانه کې راځي، ياني د دين په نوم اختلاف او تيت پرکې. په دې ډول د دين اقامت په اصل کې د داخلي ديني يووالي حکم دی، نه د خارجي مبارزو او هلو ځلو.

---

★ هغه چې ځان يې د جهنم په دروازه کې وليده، جنت ته به ننوځي.

★ هغه چې چوپتيا يې زده کړه، غوږيدا به زده کړي.

★ هغه چې په بې عزتي قانع شو، خپل عزت يې وژغوره.

★ هغه چې خاموش اوازونه يې واورېدل، د غوږونو څښتن دی.

★ هغه چې خپلې بدۍ يې سترګو ته ودرېدې، د ستاينې وړ دی.

★ هغه چې له ځانه يې پيل کړل، ترنورو به ورسيږي.

★ هغه چې خپله تېروتنه ومنې، په سمه لاره دی.

★ هغه چې په سترګو کې يې ټول شيان بې خونده شي، د خوند رازيې ومونده.

★ هغه چې ځان بې علمه وګڼي، د علم څښتن دی.

★ هغه باشعوره دی، چې خپل لاشعور يې وپېژانده.

★ هغه چې له کمزورو ډار لري، د زورورو له منګولو ژغورل کېدی شي.

★ هغه چې نورو ته يې ورکوي، په اصل کې يې په خپل ځان لګښت کړی.

★ هغه چې په خپلو معاملاتو کې ساده وي، د ملت په معاملاتو کې هوښيار ثابتيږي.

★ هغه چې په ځان يې د منافقت انديښنه وي، د ايمان څښتن دی.

★ هغه چې بايلونکی دی، په اصل کې يې موندله.

★ هغه چې بايلل يې زده وي، هيڅ څوک يې نه شي ماتولی.

# له مرګ نه پورې غاړه



ستوري او سيارې هېڅ کله له خپلې ټاکلې لارې نه خطا کېږي. د ونو او غرونو په مخکې هېڅ کله دا مسئله سر نه راپورته کوي، چې د خپل ژوند نظام په څه ډول بهتره کړي. هېڅ حيوان دا سوال نه پرېشانه کوي، چې خپلو ناحاصلو هيلو ته څنګه ورسېږي. له انسان نه پرته په دې کاينات کې چې څومره شيان دي، ټول هماغسې دي، څنګه چې بايد اوسي. په معلومه دنيا کې يوازې انسان دی، چې له دې احساس سره لاس و ګرېوان دی، چې دی چې څه غواړي، هغه حاصلولی نه شي او نه په اوسنۍ دنيا کې د هغه ترلاسی شونی دی.

زموږ او د اوسنۍ دنيا په منځ کې دغه تضاد تل انسانانو محسوس کړی دی. عام انسان يوازې په دې سوچ وهي، چې له ناروغيو، پيښو او زړښت نه ازاد ژوند وومومي، مګر ورته رسېدلی نه شي. بلې خواته علماء او مفکران د مسئلې ژورو ته کوزېږي او داسې عميق غوندې مخالف اړخونه رابرسېره کوي، چې د انسان او اوسنۍ دنيا ترمنځ په پرېکنده توګه د دېوال په څېر ولاړ دي.

انسان خلاوې کچ کوي او د اقتدار خوبونه ويني. خو دا چې دی څومره عاجز او حقير دی، په يوه مثال کې يې وګورئ. په څمکه چې څومره انسانان مېشت دي، که له دوی نه هر انسان شپږ فټه اوږد، دوه نيم فټه سورور او يو فټ پرېړ وي، نو ټول نفوس په اسانۍ سره په يوه داسې صندوق کې بندولی شو، چې اوږدوالی، پلنوالی او لوړوالی يې يو ميل وي. اوس که دغه صندوق د سمندر ساحل ته يوسو او معمولي غوندې ټېله ورکړو، نو د اوبو په ژورو کې به ډوب او

پناه شي او پېرې به تېرې شي، خو انساني نسل به د دوهم ځل لپاره په ځمکه ونه ليدل شي. د دنيا له ذهن نه به دا هم پاک شي، چې دلته د انسان غوندې کوم مخلوق هم اباد و. د سمندر په سطحه به د پخوا غوندې توپانونه ځي او راځي، لمر به د تل په څېر ځلېږي او بلېږي، د ځمکې کره به په خپل محور څرخېږي او تاوېږي. د کايناتو په لايتناهي لمنو کې غوړېدلې بې شمېره دنياوې به دومره لويې پېښې ته د يوې معمولي پېښې نه ډېر اهميت ور نه کړي. له مودو وروسته به د خاورې يوه لوړه غونډۍ د حال په ژبه وواييي، چې دا د انساني نسل قبر دی، چې پېرې دمخه په يوه کوچني صندوق کې خښ کړای شوی و.

سر جيمز جينز (۱۹۴٦- ۱۸۷۷) د کاينات د پې پناه وسعت په مقابله کې د انسان او د هغه د وطن (ځمکې) معمولي حيثيت ته په اشارې سره ويلي دي:

«موږ چې د ريگ په يوې ورې ذرې ولاړ يو، هڅه کوو چې د کايناتو فطرت او غايت معلوم کړو، حال دا چې دې کايناتو زموږ وطن (ځمکه) په زمان او مکان کې راګير کړې دی. زموږ لومړنی تاثر يو څه بوږنوونکی غوندې وي. موږ کاينات وېروونکی ومو، د پراخو او نامعلومو واټنونو له امله، تر نامعلومو حدونو پورې د غځېدلي وخت له امله، چې په مقابل کې يې بشري تاريخ مازې د بنو د يوه رپ هومره ښکاري. وېروونکی، زموږ د خورا زياتې تنهايي له امله، او په خلا کې له مادي پلوه زموږ د وطن د بالکل عبثوالي له امله. د ټولې دنيا په سمندرونو کې د پرتې ريگ له ذرو څخه د يوې ذرې يو ميليونمه برخه. خو تر دې ټولو ډېر زموږ لپاره دا کاينات ځکه وحشتناک دی، چې زموږ په څېر د يوه ژوند په حق کې بې تفاوته دی: زموږ جذبات، انګېزې، برياوې، هنرونه او مذاهب، ټول په دې پراخه طرحه کې اجنبي غوندې ښکاري. شايد ويلای شو، چې دا کاينات زموږ په څېر ژوند ته دښمن دی. په دې چې د تشې خلا لويه برخه دومره يخه ده، چې ټول ژوند به په کې کنګل ووهي او په دې خلا کې د مادې لويه برخه دومره ګرمه ده، چې په هغې باندې د ژوند وجود اصلاً شونی نه دی. خلا ځم لرې او په فضايي اجسامو باندې پرلپسې راز راز راډيويي بمباردونه کېږي، چې په هغو کې يې زياتره د ژوند لپاره مخالف او تباه‌کوونکي دي. موږ په دغسې دنيا کې راپرېوتي يو، که په تېروتنه نه وي، نو لږ تر لږه د هغه عمل په پايله کې خو راپرېوتي يو، چې تصادف يې بللی شو.» (۳)

لمريز نظام (چې زموږ ځمکه په کې ده) خورا نادره فضايي پېښه ده. د لمريز نظام پخپله دومره ندرت هم ډېر زيات مهم دی. ځکه هغه ډول ژوند چې موږ په ځمکه کې ورسره بلد يو، هغه يوازې د ځمکې په څېر سياره کې منځته راتللی شي. دغه ډول ژوند د منځته راتلو لپاره موافق طبيعي حالات غواړي، چې له هغو نه يو ډېر مهم يې هغه تودوخه ده، چې شيان په کې په رقيق شکل کې بقا وکولی شي. (۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library


په همدې علتونو دا هېڅ د باور وړ نه معلومېږي، چې کاينات دې له بنيادي پلوه زموږ په خبر ژوند لپاره پنځول شوی وي. که داسې وای، نو بيا د ميکانيزم د حجم او پيداوار په کچه کې د ډېر بهتر تناسب تمه کولی شوی. مگر لږ تر لږه په اول نظر کې خو ژوند خورا ډېر بې ارزښته اضافي پيداوار ايسي. موږ ژوندي خلک له عمومي کړښې نه ښوييدلي غوندې يو.

ساينس چې تر دې دمه کوم معلومات راکړي دي، د هغو له مخې موږ په ډېر حيرانوونکي ډول منځته راغلي يو. او زموږ دغه حيراني هغه وخت نوره هم زياتېږي، چې کله د ابتدا له مسئلې نه وړاندې تېرېږو او هڅه کوو، چې د خپل وجود په معنويت ځان پوه کړو او يا غواړو وگورو، چې قسمت په راتلونکي کې زموږ د نسل لپاره څه شی ذخيره کړي دي.

فزيک او ستورپوهنه دواړه يوه کيسه راته کوي. هغه دا چې د کايناتو يوازې يو انجام ممکن دی او هغه دی، حرارتي مړينه (Heat Death). او دا خبره هېڅ اهميت نه مومي، چې دې وروستي انجام ته د رسېدو لاره څه ده. بې له کايناتي مرگ نه د دې سفر بل هېڅ انجام نه شي کېدی.

نو آيا داسې ده، چې ژوند مازې په تصادفي ډول په يوه داسې کاينات کې راغورځېدلی دی، چې له ورايه د ژوند لپاره نه دی جوړ شوی، دغه راز د ټولو پديدو له مخې يا خو په بشپړه توگه بې طرفه دی يا په قطعي معنا د ژوند مخالف دی. او موږ به د يوې ذرې په مازې يوې تيتې پوړې تر هغو پورې نښتي يو، چې کنگل شو؟ او په خپل مختصر دريځ باندې به د لنډو شيبو لپاره په هسکه غاړه گرځو، سره له دې چې دا هم رامعلومه ده، چې زموږ ټولې هيلې به بلاخره د فنا کندې ته غورځي، او دا چې زموږ برياوې به زموږ د نسل له ختمېدو سره پای ته ورسېږي، او کاينات به باقي پاتې وي، خو موږ به نه يو.

دغه احساسات د تاريخ په هر دور کې ببلا ببلو مفکرينو په راز راز اساليبو کې ځرگند کړي دي. کريسي ماريسن (۱۹۴۶- ۱۸۸۴) د ژوند د ساينسي مطالعې په ترڅ کې بې اختياره چيغه کړه چې:

ژوند کله په دې جهان کې ښکاره شو، چېرته روان دی، ساينس موږ ته د دې پوښتنو هېڅ ځواب نه راکوي.

آينستاين (۱۹۵۵- ۱۸۷۹) د خپلې ساينسي پوهې په رڼا کې چې کله په انسان غور کوي، نو له دې اعتراف پرته بله هېڅ خبره هم د کولو لپاره نه لري، چې:

انسان په دې دنيا کې اضافي شی دی، او يوه داسې ځای ته راغلی دی، چې اصلاً مطلوب نه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library


انسان چې څه شی حاصلول غواړي، هغه د اوسنی دنیا په ساخت کې ممکن نه دي. انسان ابدي ژوند غواړي، خو ده ته ابدي دنیا نه ده ورکول شوې. دی د ځان لپاره یوه بهتره سبا (Better Tomorrow) غواړي، خو راروانه سبا د ده لپاره یوازې حادثې، زړښت او مرگ په غېږه کې لري. دی یوه ازاده، له بدیو پاکه او له خوښیو ډکه دنیا لیدل غواړي، خو د ځمکې په سر د داسې دنیا هېڅ څرک نه لگېږي.

نو اوس یوازې دوه بدیل قیاسونه ممکن دي. یو دا چې ژوند به، د برټرنډ رسل (۱۹۷۰- ۱۸۷۲) په ټکو کې، د شمسي نظام په پراخه قبرستان کې له خپلو ټولو کامیابیو او ناکامیو سره یوه ورځ د تل لپاره خښ شي. بیا دې وشي چې خښه (مادي دنیا) په یوه نه یوه شکل کې باقي پاتې شي، خو دفن شوي (انسانان) به په هېڅ گوټ کې هم په کې ونه لیدل شي. دوهم دا چې له اوسنی دنیا پرته یا له دې دنیا وروسته یوه بله ډېره کامله دنیا هم شته، چې هلته انسان د خپلو خوبونو ژوند ته رسېدلی شي. مرگ د راتلونکي وسیعتر ژوند په لور په سفر دی نه د ژوند پای. گواکې زموږ او زموږ د ارزوگانو ترمنځ هماغه نسبت دی، چې د ماشوم او انسان ترمنځ دی. ماشوم د مور په نس کې له دې ارزو سره بند وي، چې په یوه پراخه کاینات کې د یوه بشپړ انسان په څېر راڅرگند شي. د مور د نس په محدوده دنیا کې دا ارزو مازې یو موهوم خوب معلومېږي. خو یوه ورځ چې دا ماشوم د مور له نس نه دباندې ستړگې وغړوي، نو ناڅاپه گوري، چې د ده خوب یو خورا حقیقي خوب و، چې د بشپړ تعبیر په بڼه ده ته ډېر نیږدې و، خو په نس کې دننه یې دغه تعبیر نېغ په نېغه پېژندلی نه شوی یا لږ تر لږه ویې نه پېژانده.

لومړنی قیاس چې ومنو، نو د دې معنا دا ده، چې موږ دا خبره منو، چې هغه شی چې موږ یې د انسان په نوم پېژنو، هغه مازې د یوه جسم نوم دی. د جسم له مرگ وروسته لازماً د «انسان» مرگ هم واقع کېږي. خو د دې مفروضې په ملاتړ کې هېڅ قطعي دلیل نه دی پیدا شوی. د ټولو دلایلو خلاصه دا ده، چې له مرگ نه وروسته «انسان» په هېڅ ځای کې هم نه لیدل کېږي. خو دا دلیل د اصلي دعوې د ثابتولو لپاره کافي نه دی. ځکه هغه څه چې د مرگ په ورځ د «انسان» له جسم نه جدا کېږي، هغه له مرگ نه دمخه هم زموږ لپاره د مشاهدې وړ نه دی. څوک به دا خبره وکولی شي، چې هغه انسان یې لیدلی دی، چې فکر کولی شي او احساس لري. دا یو حقیقت دی، چې موږ د انسان یوازې هغه جسم گورو، چې له اوبو او عناصرو نه ساز شوی دی. د انساني جسم نه ماورا، هغه څه چې د مرگ په ورځ خاموشه کېږي، هغه خو موږ له مرگ نه دمخه هم نه وینو. نو بیا که هغه له مرگ نه وروسته ونه لیدل شي، نو له دې نه د هغه نه‌وجود څنگه ثابتېږي؟ بله دا چې معاصر ساینس دا ثابته کړې ده، چې ماده چې کله «فنا» کېږي، نو هغه له منځه نه ځي. بلکې یو ډېر حقیقي او پرمختللی حالت غوره کوي، یانې د انرژي حالت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


فیلسوفانو او مفکرینو له مرګ نه وروسته ژوند په حق کې عقلي او منطقي ثبوتونه وړاندې کړي دي. په دې کې یې ځینې ثبوتونه په خپل ځای وزن هم لري. مثلاً فردجاف شوان ویلي، چې روح په اصل کې ذهن یا شعور دی او د روح د لافاني کېدو یو ثبوت دا دی، چې په له منځه تلو سره د یوه کمې درجې په شي باندې نه شي بدلېدی، یا په بله اصطلاح، په ماده یا د مادې په ذهني انعکاس نه شي بدلېدی، په دې چې یو برتر شی د یوه کم‌تر شي مازې فعل یا عمل نه شي کېدی او نه له خپل ځان نه د برتر شي لپاره ذریعه کېدی شي.

خو له خپل ټول معقولیت سره، سره دغه راز دلایل په قیاسي استدلال کې راځي، او له همدې امله د معاصر ذهن لپاره په ځان کې کومه جاذبه نه لري. معاصر ذهن حسي استدلال ته اهمیت ورکوي. او هماغه دلیل ته د دلیل په سترګه ګوري، چې لمس یې کړي، ویې ګوري او تجربه یې کړي. په قیاسي منطق ولاړ دلیل د ده په نزد معتبر نه دی.

خو د شلمې پېړۍ په وروستۍ نیمایي کې پراخه څېړنې وشوې او په ډېر حیرانوونکي ډول یې دا ثابته کړه، چې له قیاسي دلایلو پرته دلته سوچه د تجربوي نوعیت شواهد هم له پخوا زمانو نه موجود وو. خو د علمي اصولو په رڼا کې په میتودیک ډول مطالعه شوي نه وو او بې له څېړنو دا تصور جوړ شوی دی، چې د مرګ نه وروسته ژوند په حق کې هېڅ تجرباتي دلیل نشته.

د قرآن کریم په ۳۹مه سوره کې راغلي دي: الله د مرګ په وخت کې ساګانې اخلي او د کومو چې مرګ نه وي راغلی په خوب کې (یې اخلي). بیا چې په هر چا د مرګ فیصله شوې وي، هغه ایساروي او نورې تر یوې ټاکلې نېټې بېرته رالېږي. (زمر: ۴۲) له پخوا زمانې نه خوبونو د دې قرآني بیان پخلی کړی دی. خو په پخوا زمانه کې د خوبونو په فلسفي اړخونو ډېر غور نه دی شوی. په اوسنۍ زمانه کې چې خوبونه له علمي زاویې تحلیل شول، نو معلومه شوه، چې دغه واقعات په حیرانوونکي ډول د دې خبرې پخلی کوي، چې روح یا شعور له جسم نه جدا یو خپلواک حقیقت دی او له جسم نه چې جدا هم شي، په پوره معنا باقي پاتې کېږي. خوبونه، له مرګ نه وروسته ژوند په تجرباتي کچه په ثبوت ورسوي.

عامه تجربه ده چې په خوب کې یو انسان د لرې پېښنه یا د راتلونکي یوه حادثه ګوري. دا تجربې چې تقریباً هر انسان ته وریپېښېږي، دا ثابتوي، چې د خوب په حالت کې د انسان شعور له دې دنیا نه راهسکېږي او یوې داسې دنیا ته رسېږي، چې هلته د زمان او مکان حدونه او بندیزونه نه وي. د خوب په وخت کې په انسان یو ډول بې خبري خپره وي، د دې وجه دا ده، چې د بنده روح، په جزوي توګه، د ده له بدن نه وځي. او د انسان له محدودې دنیا نه د خدای ابدي دنیا ته رسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


د لیکوال لور فریده خانم (زوکړه ۱۹۵۲) په ۲۴ جنوري ۱۹۷۱ کې په دهلي کې خوب ولیده، چې د ده ورور ظفر الاسلام خان (زوکړه ۱۹۴۸) دې ته لس روپۍ رااستولي دي. دا خوب ډېر زیات غیرمعمولي و. ځکه د خوب لیدونکې ورور په ۱۹۶٦ کې په قاهره کې و، او له خارج نه دې یو ورور خپلې خور ته «لس» روپۍ راولېږي، دا په هېڅ راز هم په منلو کې نه راځي. خو یو څو ورځې وروسته له قاهرې نه د ظفر الاسلام یوه کڅوړه راغله، چې د لسو روپو یو هندوستانی لوټ په کې ایښی و. ظفرالاسلام دا لوټ په قاهره کې په خپله بکسه کې پیدا کړی و. دا چې په عربي نړۍ کې دا لوټ بې کاره و، نو په هندوستان کې خپلې خور ته د لیک د استولو په وخت کې یې په کڅوړې کې ایښی و. د دې توجیه له دې پرته نور هېڅ نه شي کېدی، چې د خوب په حالت کې د بنده روح له جسماني محدودیتونو ازادېږي او یوه بلندتره افاقي سطحه غوره کوي. په دې وخت کې بنده شیانو ته له هغه مقام نه ګوري، چې له هغه ځایه یې د خپلې جسماني استوګنې د محدودیتونو له امله نه شي کتلی.

دغه راز ویده بنده په خوب کې بعضې وخت یو مړ شوی شخص هم ګوري. دا مړ شخص ژوندي ملګري ته ځینې داسې خبرې کوي، چې دا ثابتوي، چې هغه شخص تر اوسه پورې له خپل شعور سره باقي پاتې دی، او خوب لیدونکې په واقعي معنا له هغه سره «ملاقات» کړی دی. ګواکې د ویده انسان د شعور سطحه، تر یوه خاصه بریده د مړو شویو انسانانو له شعوري سطحې سره برابرېږي. یا په نورو ټکو کې د خوب په حالت کې بنده په محدوده معنا کې له مرګ نه وروسته ژوند تجربه کوي. د خوب حالت، په جزوي توګه د مرګ له حالت سره مشابه دی.

ډاکټر کیسل د شمالي کیرولینا د یوه شتمن شخص په پېښه څېړنه وکړه. د هغه څلور زامن و. دی په کومه خبره له درې زامنو نه خوابدی شو او د یوه وصیت له لارې یې خپل درې زامن په میراث کې د خپلې برخې له حق نه محروم کړل. کله چې دی ومړ، نو یو څه موده وروسته د ده څلورم زوی، چې د وصیت له مخې ټوله شتمني ورته رسېدلې وه، خپل پلار په خوب کې ولیده. په خوب کې د ده پلار د خپلې خوښې له چینو نه یوه چینه اغوستې وه. او ډېر زیات غوسه او پارېدلی ښکارېده او د خبرو په وخت کې یې بار بار د خپلې چینې دننې جېب ته اشاره کوله. د هلک چې سترګه خلاصه شوه، نو د خپل پلار هغه چینه، چې په خوب کې یې لیدلې وه، راوایستله او په دننې جېب کې یې لاس ننویسته. د هلک له ډېرې حیرانتیا نه یې خوله وازه پاتې شوه، څه ګوري چې په جېب کې د پلار په لاس لیکل شوې یوه وصیت نامه پرته ده. په دې وصیت کې یې تېر وصیت منسوخ کړی و او پاتې درې زامنو ته یې هم حق ورکړی و، چې د خپلې برخې میراث اخیستلی شي. پلار له مرګ نه لږ دمخه د لومړني وصیت په هکله خپله فیصله بدله کړې وه. او له سره یې نوې وصیت‌نامه لیکلې او د خپلې چینې په دننې جېب کې اچولې وه. او مخکې له دې چې خپل ټول زامن له دې نوې پرېکړې خبر کړي، له دنیا نه یې سترګې پټې کړې وې. ظاهره خبره ده، چې په دې کیسه باندې له مړه

(c) ketabton.com: The Digital Library
الرساله

شخص نه پرته نور هېڅ څوک هم نه پوهېدل. د همدې لپاره باید دا یقین وکړو، چې هغه له مرګ نه وروسته هم په یو نه یو شکل ژوندی او خپل زوی یې له دې کیسې نه خبر کړ.

خوب ته نیږدې پېښه هغه هم ده، چې د حوادثو په وخت کې یو شخص د لنډمهال لپاره «مري» او لږ ځنډ وروسته بېرته راژوندی کېږي. له پخوا زمانو نه دغسې پېښې شوې دي، چې یو شخص له طبي پلوه په بشپړه توګه مړ شوی دی، خو څو دقیقې وروسته یې د زړه ضربان بېرته شروع شوي. او بېرته «ژوندی» شوی. دغه راز واقعات په ظاهر کې د دې خبرې ثبوت دي، چې «بنده» د یو څو شېبو لپاره خپل بدن پرې ایښی و او اوس بېرته خپل بدن ته راستون شو. په پخوا زمانو کې به دغه ډول پېښې مازې د عجایبو په ډول یادېدې. خو په اوسنی زمانه کې چې له علمي عینکو وارزول شوې، نو معلومه شوه، چې له دې پېښو نه دا ثابتېږي، چې انسان، له جسم نه ماورا خپله یوه خپلواکه هستي لري، چې هغه وخت یې هم وجود پاتې وي، چې له خپل دنیوي جسم نه بېله شوې وي.

ځینې داسې پېښې هم ثبت شوې دي، چې یو ناروغ شخص د عملیاتو په مېز باندې پروت و، د عملیاتو په وخت کې یې د زړه درزا بنده شوه. له طبي پلوه مړ شو. لږ ځنډ وروسته چې په هوښ راغلی او پوښتنه ورنه شوې، چې د «مرګ» په جریان کې دې څه محسوس کړل. هغه ویلي دي، چې ما داسې محسوس کړه، چې له خپل جسم نه بېل شوی یم او په فضا کې لامبو وهم. ما له فضا نه خپل هغه بدن لیده، چې د عملیاتو په مېز پروت دی او شاوخوا ته یې ډاکټران راتاو دي. دغه راز ناروغ شخص به د ډاکټرانو ترمنځ شوې خبرې هم په داسې ډول تکرار کړې، لکه د «مرګ» په وخت کې هم چې هغه ډاکټران لیدل او اورېدل. روح که مازې د بدن یوه چاره (Function) وي، نو چې کله له جسم نه جدا شي، نو څنګه بقا کولی شي. له جسم نه له جلا کېدو وروسته هم د شعور له منځه نه تلل دا په ثبوت رسوي، چې انسان یو خپلواک موجو دی، چې له جسم نه الایده یې هم په پوره معنا وجود پاتې کېږي.

ډاکټر ګرفیلډ وایي، چې ما د یوې سپین‌سرې مېرمنې معاینه کوله. دا ښځه د هډوکو په سرطان اخته وه او حالت یې ډېر زیات د خرابېدو په خوا و. مور د ناروغې د درد د لرې کولو لپاره چې هر څومره هلې ځلې وکړې، یوې هم کار ور نه کړ. بیا یو ناڅاپه دا بې هوښه شوه. او چې کله په هوښ راغله، نو داسې مو احساس کړله، لکه دا چې ډېره زیاته په سکون شوې وي. ما له ښځې نه د دې ناڅاپي بدلون علت وپوښته. هغې وویل، چې همدا اوس زما مړه مور زما لیدو ته راغلې وه او هغې راته وویل، چې دواړه به ډېر ژر سره یو ځای شو. د خپلې مور له دې خبرې وروسته دا ډېره زیاته په سکون وه او لږ ځنډ وروسته مړه شوه. دا واقعه ثابتوي، چې د ناروغې مور، له مرګ وروسته هم له بشپړ شعور سره موجوده وه او که نه وه، نو په څه ډول د خپلې لور لیدو ته راغله؟ بله دا چې د مور د خبرې مطابق په هماغه شېبه کې د ناروغې مړینه دا ثابتوي، چې د ناروغې تجربه حقیقي وه، نه دا چې هسې خیالي خبره وه.

Maulana
WAHIDUDDIN KHAN

(c) ketabton.com: The Digital Library


د قرآن کریم په ۵٦ سوره کې ارشاد دی: نو ولې هغه وخت چې (روح) مرۍ ته ورسېږي او تاسې هغه وخت (په سترګو) ګورئ. او موږ له تاسې زیات ورنژدې یو، خو تاسې نه وینئ. (**واقعه**) له دې نه معلومه شوه، چې کله انسان مرګ ته نیږدې وي، نو د روح د وتلو نه مخکې له مرګ نه د هغه خوا ځینې دریځې ورباندې وازې شي. د بلې دنیا پرده یې تر یوه خاصه حده له مخې پورته شي. سره له دې چې دی په همدې دنیا کې وي، خو د اخروي دنیا د ځینو شیانو ننداره یې سترګو ته ودرېږي.

په دې ټولو کې عامه او ډېره تکراري مشاهده د مړو شویو خپلوانو لیدل دي. دا واقعه هله پېښېږي، چې کله انسان د زنکدن شېبو ته رسېدلی وي. نو عموما لیدل شوي دي، چې د زنکدن په وخت کې انسان خپلو مړو خپلوانو ته اوازونه کوي. بنده خپلو مړو خپلوانو او دوستانو ته داسې اوازونه کوي، ته وا هغوی یې شاوخوا کې راټول دي. د لیکوال مشره خور طاهره خانم شاوخوا په ٦٠ کلنۍ کې په اګست ۱۹۷٦ کې وفات شوه. دې وخت کې دا د اعظمګړ په روغتون کې وه. د مړینې په وخت کې زه د خپلې خور په خوا کې نه وم، خو زما مور زیب النساء خاتون راته وویل، چې په وروستي عمر کې مې د اروابنادې له خولې دا کلمې واورېدې «ابا مې له دومره وخته ولاړ دی، ولې ځوک د کېناستو نه ورته وایي.» زموږ پلار په ۱۹۲۹ کې له نړۍ نه سترګې پټې کړې وې. نو ځکه د دې خبرې په اورېدو خلک حیران شوي وو. د اروابنادې لور وویل، «ابا دې دلته چېرته دی.» نو هغې ورته وویل، «هغه مخامخ راته ولاړ دی.» او بیا څو شېبې وروسته یې د تل لپاره سترګې وتړلې.

ډاکټر الزبیت کیوبلرروز د یوه رسالت په توګه دا کار پیل کړ، چې له خلکو سره د هغوی د زنکدن په شېبو کې وګوري او په وروستي عمر کې د هغوی اوازونه ثبت کړي. هغې شاوخوا له زرو نه ډېر داسې خلک له نیږدې مشاهده او مطالعه کړل، چې د زنکدن په حالت کې به وو. او ګواکې د دې دنیا او بلې دنیا منځنې پل ته به رسېدلي و. دې خلکو هغې ته وویل، چې د زنکدن په وخت کې یې لیدو ته ګڼ داسې دوستان او خپلوان راغلي دي، چې ډېر پخوا مړه شوي دي. «تر څو د اخرت په سفر کې دوی سره مرسته وکړي.» دا خلک که په دې دنیا کې د بدن له یوه غړي محروم وو، نو د زنکدن په وخت کې یې داسې محسوسوله، چې بدن یې په هر لحاظ پوره دی. مثلاً هغه شخص چې ګوډ و، هغه داسې محسوسوله، چې دواړه پښې یې رکې روغې دي.او دا په دې معنا ده چې په بدن کې که د یوې حادثې له امله یو عیب پیدا شي، نو له دې امله په اصلي انساني ذات کې کوم عیب یا کمی نه پیدا کېږي.

دا راز خوبونه او پېښې سره له دې چې تل پېښې شوې دي. خو په اوسنۍ زمانه کې لومړی ځل په میتودیک ډول تر څېړنې لاندې ونیول شوې او له اړینو احصایو او ارقامو سره زرګونه واقعات راټول شوي، په ځانګړي ډول په امریکا کې چې هلته په عصري تخنیکونو او ساینسي ابزارو په ډېر منظم ډول مطالعه کېږي. پر دې څېړنیزو نتایجو بېشمېره

Maulana
WAHIDUDDIN KHAN

(c) ketabton.com: The Digital Library





کتابونه هم چاپ شوي دي. همدې نيږدې وختونو کې (۱۹۷۷) له امريکا نه يو کتاب چاپ شوی دی، چې نوم يې «له ژوند نه وروسته ژوند» دی.

**LIFE AFTER LIFE (USA. 1976)**

**BY DR. RAYMOND A. MOODY JR.**

دا کتاب نن ورځ د ډېر زيات چاپ شوي کتاب په ډله کې شامل شوی دی. د دنيا په لويو، لويو ورځپاڼو او رسالو کې، په اوسني عصر کې لومړی ځل، د مرګ نه وروسته ژوند په تړاو سرليکونه تر سترګو کېږي. په دې برخه کې د څېړنيزو کتابونو لنډيزونه چاپېږي. د امريکايي مجلې په يوه راپور کې ويل شوي دي، چې د «مرګ» موضوع او له مرګ نه وروسته د ژوند مسئله ناڅاپه امريکا کې تر ټولو ډېره مقبوله سوژه ګرځېدلې ده. په غونډو کې اوس د مرګ موضوع د جنسياتو او سياست په څېر د صدابهار موضوعاتو ځای نيولی دی. بله خوا د کتابونو يو نوی ډول رامنځته شوی دی، چې د مرګپوهنې (Thanatalogy) کتابونه ورته ويل کېږي.

آرتر کويسلر پخوا مارکسيست و، خو اوس تر دې حده بدل شوی دی، چې يوه اوږده څېړنيزه مقاله يې خپره کړې ده، چې عنوان يې دی «آيا له مرګ وروسته هم ژوند شته؟»

د اوسنۍ پېړۍ په دوهمه ربعه کې آينستاين، ډيبروګلي، شروډينګر او هايزن برګ په ډېر برياليتوب سره دا ثابته کړه، چې ماده په اصل کې غيرماده ده. هغه څه چې په سترګو کې جامد په نظر راځي، د انرژي (ځواک) شديد تراکم دی. له دې نه ثابته شوه، چې د مادي اجزاء – الکتران، پروټان، نيوټران او داسې نور – په عامه معنا کې مادي ذرې نه دي، بلکې د څپو په څېر دي. ډيبروګلي وايي، چې يو الکترون په يوه وخت کې ذره هم ده او څپه هم. دوه‌ګونيتوب (ډواليزم) د اوسني ساينس يوه لازمي برخه ګرځېدلې ده، چې (Priniciple of Complementarity) يانې د بشپړتيا اصل يې نوی ساينسي نوم دی.

د دې موندنو په حواله آرتر کويسلر ليکلي دي، چې په ذره يا څپه (Particle/Wave) کې چې د بشپړتيا اصل ته غاړه کېږدو، نو د جسم/ذهن (Body/Mind) اصول منل هم اسانېږي. په يوه ځای کې چې د بشپړتيا اصل منو، نو په بل

(c) ketabton.com: The Digital Library


ځای کې يې نه منلو ته هېڅ دليل نه شو پيدا کولی. موږ دا سوال کولی شو، چې که ماده خپل ځان په څپو بدلولی شي او په دې سره په يوه سوچه غيرجسمي انرژۍ (Disembodied Energy) بدلېدی شي، نو آيا بيا به هم دا بې معنا وي، چې د بې‌بدنه ذهن (Discarnate Mental Energy) وجود ومنل شي؟ آيا دغه ډول بحث به اوس هم له حقيقت نه لرې وي؟ هغسې چې پنځوس کاله پخوا ښکارېدل، چې ساينس لا هم د مادې حيثيت له منځه نه و وړی او دا يې لا نه و راته ويلي، چې اټوم «شی» نه دی؟ او آيا اوس به هم دا خبره معقوله وي، چې يو شخص د ذهني مادې (Mind-Stuff) اصطلاح غيرساينسي وبولي او رشخند ورباندې ووهي؟ ډاکټر آئی جې ګډ خو تر دې ځايه پورې رسېدلی دی، چې ماده ايتر (هوا/غيرمادي) ده او ذهن جامد کاڼی دی.

له مرګ نه وروسته د ژوند ثبوت دا هم ثابتوي، چې اوسنی دنيا نه علاوه يوه بله دنيا هم شته. که داسې کومه دنيا نه وي، نو دا نامريي انساني پديدې چېرته مېشتې دي؟ خلک له خپل بدن نه چېرته کډه کوي. حقيقت دا دی، چې له مرګ نه وروسته ژوند او بله دنيا له يو بل سره داسې تړلي دي، چې د يوې ثابتېدل پخپله بل هم په ثبوت رسوي.

په قرآن کريم کې ويل شوي دي: او د هر شي مو جوړې پيدا کړې دي چې تاسې نصيحت واخلئ. (**الذاريات: ۴۹**) په دې آيت کې دې خبرې ته اشاره ده، چې د دنيا نظام داسې هست کړای شوی دی، چې هر شی د جوړې په صورت کې دی. (نر او ښځه، مثبت او منفي، شپه او ورځ) يو جز له بل جز سره په ګډه بشپړتيا مومي. دا د دې لپاره ده چې خلک پوه شي، چې هغسې چې هر شی جوړه لري، همداسې د دې دنيا لپاره هم يوه جوړه ضروري ده. دا جوړه اخرت دی. له اخرت پرته دا دنيا، د اوسني تخليقي نظام له مخې هېڅکله بشپړتيا نه شي موندلی.

نن ورځ د دنيا دغه جوړه د انسان په علم کې راغلې ده. د دې جوړې ساينسي نوم انټي دنيا ده. عجيب تصادف دی، چې د شلمې پېړۍ په وروستۍ نيمايي کې له يوه لوري د انسان علم له مرګ نه وروسته د انساني جوهر د بقا تجربه راوکړه، بل لوري ته په همدې وخت کې طبيعي ساينس د دې خبرې په ثبوتولو لاس پورې کړ، چې زموږ د اوسنۍ دنيا متوازي يوه بله دنيا هم شته، چې په بشپړ شکل کې خپل وجود لري. زموږ اوسنۍ نړۍ يوه دنيا ده او هغه بله نړۍ انټي دنيا.

تر ۱۹۲۸ز پورې ساينسپوهان په دې باور وو، چې ټول اټومونه يوازې دوه ډوله ذرات لري. مثبت چارج لرونکي پروټونونه او منفي چارج لرونکي الکترونونه. خو په همدې کال کې پال ډيراک د يو نوي قسم ذرو احتمال هم څرګند کړ. هغه وويل، «د دې ذرې ماده د الکترون غوندې ده، خو د الکترون سره مخالف برقي چارج لري. موږ دې ذرې ته انټي الکترون ويلی شو.» په ۱۹۳۲ کې اندرسن دغه انټي الکټران په فضايي وړانګو کې کشف کړ. اوس دا معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library


شوه، چې د اټم هره ذره یوه انټي ذره هم لري. پروټون یو انټي پروټون لري، نیوټرون یو انټي نیوټرون لري، ګواکې د کاینات ټولې ذرې د جوړو (Pair Particles) په حالت کې دي.

اوس ساینسي تفکر یو بل ګام هم واخیست او دا هم معلومه شوه، چې په مادي دنیا کې د جوړو دغه وېش د الکټرونونو له کوچنیو ذراتو نه نیولې له ټول جهان نه راچاپېر دی. الکټرون انټيالکټرون لري، اټوم انټياټوم، ماده انټيماده، تر دې چې دنیا انټيدنیا لري. ساینسپوهان وایي، چې زموږ په دنیا کې ټولې انټيذرې په بې ثباته (Unstable) حالت کې دي. خو په انټي دنیا کې به ټولې ذرې د ثبات (Stable) حالت کې وي، په دې چې د ټولو اتومونو هستې به د منفي چارج ذرې لري او ټول الکټرونونه به مثبت برقي چارجونه لري. د دغه ډول انټي دنیا لومړی ځل احتمال په ۱۹۳۳ کې ډیراک په خپل یوه لکچر کې ښکاره کړ. اوس ساینسپوهان عموما دې نظر ته رامات شوي دي. د شوروي اتحاد ډاکټر ګسټاف نان د ریاضیاتو له لارې د دې انټي دنیا داسې پوخ پخلی کړی دی، چې اوس ان مخالفین هم دې نظریې ته د یوه ډېر متوازن تصور په سترګه ګوري.

په خپله دنیا کې موږ د لرې شیان د فوټون په مرسته پېژنو، چې د برقي مقناطیسي وړانګو ذرې دي. د ساینسپوهانو خیال داسې دی، چې انټي دنیا به هم همدغسې فوټونونه خپروي، چې په یوه وخت کې هم ذرې دي، هم انټي ذرې. انټي دنیا، که لرې وي یا نیږدې، و دې شي چې د هغې رڼا به د فوټون په بڼه پرلپسې تر موږ پورې رارسېږي. خو موږ یې د خپلې مثبتې دنیا د شیانو له رڼا نه جدا نه شو لیدلی. د دنیا او انټي دنیا ترمنځ څه اړیکه ده. آیا د دواړو ترمنځ کومه ارتباطي سلسله شته، چې د هغې له لارې زموږ دنیا له انټي دنیا سره اړیکه ټینګوي. د ساینسپوهانو جواب مثبت دی. د ډاکټر نان نظر دا دی، چې بلیک هول او وایټ هول باید د دنیا او انټي دنیا ترمنځ محلي کانالونه وګڼل شي.

ګڼ ساینسپوهان په دې نظر دي، چې انټي دنیا له موږ نه بېله او زموږ له دنیا سره متوازي خپل بېل وجود لري. د تخلیق په هکله د ستر انفجار (Big Bang) نظریه دا فرضوي، چې له لسو نه تر شل بیلیونه کاله دمخه ټوله ماده په منجمد حالت کې د ابتدایي اټوم په شکل کې وه. او فوټون انرژي یې لرله. اټکل دا دی، چې فوټونونه د یوه ستر انفجار په پایله کې د مادې او انټي مادې په حالت کې سره غونډ شول او د دنیا او انټي دنیا د جوړولو لپاره یې جدا، جدا لاره ونیوله. په همدې اساس هینز الفوین په ۱۹٦۳ کې د بېلوالي د میکانیزم (Seperation Mechanism) امکان څرګند کړ، چې د دې میکانیزم په مټ په یوه کهکشان کې ماده او انټي ماده دواړه پایېدلی شي.

خو ساینس چې کله دې نقطې ته ورسېږي، نو غلی شي او باید غلی شي. په دې چې د ساینس د څېړنې ساحه یوازې هغه پېښې دي، چې د طبیعي قانون له مخې واقع کېږي. ساینس له طبیعت نه ماورا شیانو په هکله هېڅ قطعي خبره نه شي کولی. خو چې کله یې دا خبره ومنله، چې استنباط هم د علم یوه روا وسیله ده، نو زموږ لپاره یې د نور تحقیق دروه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم پرانیستله، خو په دې شرط چې دغه استنباط د ثابتو واقعاتو په اساس شوی وي. د دې اصل په رڼا کې که موږ دا استنباط کړو، چې بله دنیا، هلته چې انسان له مرگ وروسته ځي، غالباً هماغه ده، چې ساینس د انتې دنیا نوم ورکړی دی، نو په سوچه علمي اعتبار د دې خبرې نه منلو ته هېڅ جواز نه پاتې کېږي.

په اوسنۍ معلومه دنیا کې چې کوم حالت دی، هغه هم همدا دی. د ساینس لاسرسی تر کمي اړخونو پورې دی او د ساینس څادر د کیفي اړخ لپاره کفایت نه کوي. ساینس موږ ته د گل خبرې کولی شي، خو د خوشبویي په اړه څه نه راته وایي. ساینس موږ ته د شیانو درک راکوي، خو د هغو له حسن څخه مو نه خبروي. ساینس موږ ته انسان راپېژني، خو د انساني شعور په اړه د ویلو لپاره هېڅ هم نه لري. نو په همدې ډول که ساینس موږ ته د «انتې دنیا» پوهه راکړې، خو د هغې د خوشبویي، د هغې د حسن، د هغې د شعور په اړه له خبرو کولو نه عاجز وي، نو موږ باید په دې خبره حیران نه شو. دا تشه کولی شو، هماغسې د خپل استنباط په ذریعه ډکه کړو، لکه دا نن ورځ یې چې د معلومې دنیا په برخه کې هم کوو.

---

## د قرآن پوهنې لپاره

علامه زمخشري لیکلي دي، چې د یوه کس په وړاندې د قرآن کریم دا آیت تلاوت شو:

«یَوْمَ نَدْعُو کُلّ أُنَاسٍ بِإِمَامِهِمْ» (اسراء: ۷۱)

هغه ورځ چې هره ډله به له خپل امام (رسول یا مشر) سره وبولو.

دې سړي د آیت دا مطلب واخیست: هغه ورځ چې هره ډله به له خپلو میندو سره وبولو.

د امام لفظ مفرد و، خو هغه ورته د اُم (مور) جمع فکر وکړ. حال دا چې که هغه شخص د صَرف له قواعدو سره اشنا وای، نو پوه شوی به و، چې د اُم جمع امام نه راځي. مثلاً همدا راز «مسیح» کلمه له دوو مادو نه مشتق کېدی شي. او د دواړو به بېلې بېلې معناوې وي. که یې اشتقاق له مسح څخه شي، نو معنا به یې لمس کول یا په یوه شي لومد لاس تېرول وي. او که له مساحت څخه راووځي، نو معنا به یې اندازه او پیمانه وي، او داسې نور.

له همدې لامله د فنونو ماهرینو د قرآن کریم د تفسیر لپاره په پنځلسو علومو کې مهارت پیدا کول اړین بنودلي دي:

**۱ – لغت**، چې د قرآن کریم د مفردو کلمو معنا ورنه معلومه شي.

**۲ – نحو**، یاني د اعرابو علم، په دې چې په عربي ژبه کې د زور او زېر له بدلېدو سره معنا هم بدلېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۳ – صرف**، د صیغو د اختلافاتو پوهه.

**۴ – اشتقاق**، یاني یو لفظ له کومې مادې څخه راغلی دی.

**۵ – د معاني علم**، چې د معنا له مخې د کلام ترکیبونه پرې معلومېږي.

**۶ – د بیان علم**، چې د کلام ظهور او خفا، تشبیه او کنایه پرې معلومېږي.

**۷ – د بدیع علم**، چې د تعبیر له مخې د کلام ښېګنې پرې معلومېږي.

**۸ – د قرأت علم**، څکه د مختلفو قرأتونو له امله مختلفې معناوې پیدا کېږي.

**۹ – د عقایدو علم**، تر څو دا معلومه شي، چې چېرته ظاهري معنا مراد ده او چېرته تأویل ته اړتیا ده.

**۱۰ – د فقهي اصول**، هغه چې د استدلال او استنباط علتونه پرې معلومېږي.

**۱۱ – د نزول اسباب**، څکه په شان نزول باندې له پوهېدو سره د آیت معنا لا ډېره روښانېږي.

**۱۲ – د ناسخ او منسوخ علم**، تر څو منسوخ شوي احکام له معمول بها (عمل ور) احکامو څخه وپېژندل شي.

**۱۳ – د فقهي علم**، څکه د جزیاتو له لارې کلیات پېژندل کېږي.

**۱۴ – احادیث**، یعني هغه تفسیري روایتونه چې د قرآن کریم د مجملو آیتونو تفسیر بیانوي.

**۱۵ – وهبي علم**، هغه خاص علم چې په دې حدیث کې ورته اشاره شوې ده، مَن عَمِلَ بِمَا عَلِمَ وَرّثَهُ اللَّه عِلم مَالَم يَعلَم.

بعضي خلکو د قرآن پوهنې لپاره له دې نه کم یا تر دې زیات علوم هم بیان کړي دي، خو حقیقت دا دی، چې دا ټول اضافي او نااړین شرطونه دي. دا چې دغه فنون په قرآن پوهنې پورې تعلق نه لري، له دې ټکي هم واضحه ده چې په دې کې زیاتره علوم هغه دي، چې صحابه بیخي ورسره اشنا نه وو او په وروسته دور کې تدوین شوي دي.

حقیقت دا دی، چې د قرآن پوهنې لپاره یوازې دوو شیانو ته اړتیا ده، یو ایمان او بل عربي ژبه. که په انسان کې په رښتیا ایماني شعور بیدار وي او له عربي ژبې سره ښه بلدتیا ولري، نو یقیني ده چې د اللّه په مرسته به په الهي کلام پوه شي، او بل هېڅ علم ته به یې هم اړتیا نه شي.

ایمان مازې د کلیمې الفاظ په ژبه ویل نه دي، ایمان په اصل کې د فطرة اللّه د موندلو نوم دی، هغه فطرت چې ټول انسان ورباندې پیدا کړای

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي دي. ایمان، د مجمل شعور په توګه، انسان د خالق او مخلوق له ټولو رموزو سره اشنا کوي. او بیا که دی په عربي ژبه پوه وي او قرآن کریم ولولي، نو خپل ځان به د هغه انسان په مقام کې وګوري، چې الهام ورته کېږي. دی به داسې احساس کوي، ته وا خدای مخامخ ورته مخاطب شوی دی. دې مقام ته له رسېدو وروسته د انسان په لاس پنځېدلي علوم د قرآن او بنده ترمنځ یو ډول خنډ ایجادوي، دا خو ایسته پرېږده، چې د انسان لپاره د قرآن کریم د معانیو د روښانه کولو ذریعه وګرځي.



## د ژباړې تېروتنه

د علامه سخاوي یو کتاب دی «القول البدیع في الصلاة علی الحبیب الشفیع.» په دې کتاب کې علامه سخاوي د شیخ ابوالخیر اقطع یوه کیسه راوړې ده. په یوه اردو کتاب کې دا کیسه په دې ټکو کې ژباړل شوې ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library

«شیخ ابو الخیر وایي، چې زه مدینې منورې ته لاړم. هلته پنځه ورځې پاتې شوم. خو کوم خوند او کیف یې رانه کړ. زه روضې شریفې ته ورغلم، او د خدای رسول صلی الله علیه وسلم او حضرت ابو بکر رض او حضرت عمر رض ته مې سلام وکړ. او عرض مې وکړ، چې اې د خدای رسوله! زه نن ستاسې مېلمه یم. بیا له هغه ځایه رالرې شوم او د منبر شاته ویده شوم. په خوب کې مې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ولیده، چې حضرت ابوبکر یې ښي لاس ته او حضرت عمر یې کیڼ لاس ته و. حضرت علي رض یې مخې ته روان و. زه حضرت علي رض وغوښتم او ویې فرمایل، پاڅېږه، د خدای رسول صلی الله علیه وسلم تشریف راوړی دی. زه پاڅېدم او پیغمبر علیه السلام مې د دواړو سترګو په منځ کې ښکل کړ. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ماته یوه مړۍ راکړه. ما نیمه وخوړه، او چې کله راویښ شوم، نو نیمه زما په لاس کې وه.

دلته موږ د دې کیسې له سند او صداقت سره هېڅ کار نه لرو، بلکې یوازې د یوه ادبي هدف له مخې مو رانقل کړې ده. د کیسې دا جمله چې «کوم خوند او کیف یې رانه کړ.» د ژباړې غلطي ده. په اصل کتاب کې خبره په دې ډول ده چې «اَقَمتُ خَمسَةَ اَیّامٍ مَا ذُقتُ ذَوَاقًا.» د دې جملې سمه ژباړه به داسې وي چې: زه پنځه ورځې پاتې شوم او په دې ورځو کې مې د څکلو لپاره هېڅ شی هم ونه موندل. دغه ډول تېروتنې په اردو ژباړو کې ډېرې عامې دي.

***

د ستاینوکي په پرتله هغه شخص د یو چا ډېر غوره ملګری دی، چې نصیحت کوونکی وي، خو ډېر کم خلک په دې خبره پوهېږي. او بنده خو چې یو ځل کوم مقام ته ورسېږي، بیا یې چې تر ټولو ډېر په کوم حقیقت سترګې پټې وي، هغه همدا دی.

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**